# غزل

مصنف:
پروفیسر رحمت الله درد

شپږم ایډیشن جنوري ۲۰۱۱

خپرونکی:
عمرداز مروت
تختي خېل پښتو ادبي ټولنه ضلع لکي مروت

# انتساب

زما د ځوانیمرګ زوئ احسان الله خان دمحل

په نوم

چې زه ئې د درد په مفهوم پیژه کلم

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

..........................

د کتاب نوم:

# غـــزل


| | |
|---|---|
| مصنف: | پروفېسر رحمت الله درد |
| اول ځل چاپ: | مارچ ۲۰۰۱ |
| دويم ځل چاپ: | اکتوبر ۲۰۰۳ |
| دريم ځل چاپ: | جون ۲۰۰۵ |
| څلورم ځل چاپ: | جولايي ۲۰۰۷ |
| پينځم ځل چاپ: | اکتوبر ۲۰۰۹ |
| شپږم ځل چاپ: | جنوري ۲۰۱۱ |
| شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| خطاط: | سليم قرار |
| بيه | سل روپۍ |
| خورونکی: | عمردراز مروت |

درکونه: يونيورسټي بک ايجنسي خيبربازار، حمزه بکډپو چوک بازار بنو، نجيب بکډپو سرای نورنګ، عبدالله شيخ ډېره درويش بک

# جدید غزلګو

په دې لمبه لمبه ماحول کښې درده
غزل مې رنګ د رومان نه قبلوي

پروفیسر رحمت الله درد د پښتو په جدید غزلګو شاعرانو کښې منفرد او جوت مقام لري. د شعر آغاز یې له رومانې شاعرۍ نه وکړو. خو له رومانیت نه تر حقیقت نګارۍ پورې یې اوږد سفر دے چې درد صیب په څلوېښت، پنځوس کالو کښې په مزه مزه طے کړو. نه چیرته د ابتذال ښکار شو او نه د ماڼه بازۍ، نه یې د قلم ادبي تړون له روایتي قدرونو او شعور، او نه یې شعریت او فني ښکلا له لاسه ورکړه.

درد صیب پخپله د ادبیاتو استاد پاتې شوے دے. د اروابناد لوئ پوهاند میاں تقویم الحق صیب غونډې استاد او د ساهو لیکوال اروابناد ایوب صابر او د پښتو قهرمان ادیب، شاعر او نقاد ښاغلي قلندر مومند غونډې ادبي ملګرو

خدای ورنصیب کړي وو- چې د چا په محبت کښې د غزل فني او الهامي پرختګ یې وکړو.

پروفیسر درد د مجذوب هم مکتب او د طاهر کلاچوي هم- مشرب وو- بیا د شاعرانه او حساس طبیعت خاوند وو- دا قول عناصر د درد په شاعرۍ اثر انداز شوي دي. د پښتو او د اردو مشهور او معروف غزلګو شاعرانو مطالعه یې وظیفه پاتې شوې ده او د خپلې شاعرۍ خوند رنګ یې ښیرې شوخ کړے دے.

ویلے شي چې تېره صدۍ د غالب صدۍ ده- خو درد د غالب نه زیات لږ میر نه اثر اخیستے- ساده خوږ کلام سلیس خو ته دار، مترنم روان شعر کښې ژور او سرجمت مفهوم رانغښتل د درد خاصه ده- او شعر یې د سهل ممتنع نمونه ده.

منم چې په شاعرۍ کښې یې د غرونو نه راوتونکو الګلو شور او د سیمې د باراني ګوکیو خروش نشته خو د درد شاعرۍ د ګڼې سیند خوندې ژوره ده چې سطح یې پرسکون خو تل یې لږ تلاطم ډک دے د ... ځوانۍ لري او لیرانۍ هم- او د سحر نایابه ملغلرې پکښې ځلېږي.

د درد په شاعرۍ کښې چې ما څومره تنوع لیدلې ده - هغه د ذکر وړ ده - په هر غزل کښې یې (یوه) دوه دوه، درې درې شعرونه داسې وي چې نوې خیال، نوې انداز لري، د معنیٰ ندرت او د مضمون جدت وي پکښې، او کمال یې دا دے چې نه یې دا مضمون بیا بیا تکرار کړے دے او نه یې د زړو قدرونو او ادبي روایاتو "یوټرن" (U-TURN) کړے دے - نوې او زاړه شراب یې داسې په تناسب ګډ کړي دي چې "دوآتشه جام" یې ترې جوړ کړے دے.

پروفیسر درد خپل جذبات، محسوسات او پیغام قاري ته رسول غواړي - ځکه یې ټول زور د معنیٰ په ابلاغ دے او د شعر ظاهري حُسن ته یې شعوري پاملرنه نه ده کړې - د شعر ښایست یې د معنیٰ په ندرت او د مضمون په جدت بنا کړے دے - د صنائع و بدائع سهارا یا د تشبیه او استعارې په ګانه یې تکیه نه ده کړې - ځنې کسان پېدائشي خوږ ژبانه وي - د خبرو حل یې دومره دلکش وي چې له خولې یې شکرې توئیږي درد هم له خولې ګلان دوړوي - مشکل نه مشکل مطلب او ژورې نه ژورې نکته په داسې اسانو ټکو کښې بیان

کړي چې بغير د "ايجاز" بل نوم نهٔ شي ورکېدے. د غزل تول لوازمات لکه رمز و کنايه، اختصار و ايجاز، اخفا و ايماء، دردمندي او روماني الهام، داهر څهٔ د درد پهٔ غزل کښې پهٔ لاشعوري توګه داسې پهٔ فنکارئ اوبدلے شوي دي چې د شعر مفهوم او معنیٰ لا ډېر واضح کړي. د شعر او د مصرعې ترکيب يې د نثر د ترتيب سره سمون خوري. مبتداء، خبر، فاعل مفهوم متعلقات او د فعل ترتيب يې پهٔ شعر کښې ډېر کم بدلېږي. دغه وجه ده چې د درد شعر فوراً د سړي پهٔ ژبه رواني سره جاري شي او قاري پهٔ دې خوش فهمۍ کښې مبتلا کړي چې دا خو زما خيال، زما پهٔ لهجه او زما پهٔ ژبه کښې نظم شوے دے، داسې خو زهٔ هم کولے شم. خو چې عملي کوشش وکړي او ناکام شي نو شاعر ته سلام وکړي. د بېلګې پهٔ توګه څو شعرونه ليکم.

ناست وي پهٔ محفل کښې خو تنها لګي
پته د مينې سړي صفا لګي

نهٔ غواړم عيشونه درته نهٔ غواړم
اے د ځوانۍ عُمره خو تېرېږه مهٔ

ما خو داوي چې د دُنيا ګيلې به تاته کوم
تهٔ چې خفه شوې اوس د تا ګيلې به چاته کوم

قدر زهٔ د هر ښکلي کومه خو
يو سړے نۀ يم ورو جلد پېژنم
زما د نن ورځې گناهو نه د شمېر نو نۀ دي
تۀ زانه غواړې اے رحيمه د عُمر ونو حساب
دغ اطمينان پۀ غلو ښو ونو ښلی
چې مو د غولي دبوالونه ښکلي دي
کۀ غلونه نۀ دي نو دا خلق ولې
خپلو ښکلو کښې شاته ور اوباسي
پۀ ما به وکړې غټ احسان مۀکړه
ما هم کۀ وکړو اشسان مۀکړه
ژړونه مو يو رنگ او خوښه بل رنگ
زۀ مو کړم دوۀ کښې حېران مۀکړه
زۀ چې مقتل ته رسېدم درده تنها پاتې وم
پۀ هر قدم زانه پۀ شا پاتې کېدل مۀکړي
دا بېخودي کۀ هوښياري وه درده
چې پرېبوتې د يار پۀ در پرېبوتې

صفي الله ساحل

ايم اے (اېن پاسټ هي) ايم اے اُردو

## د یقین او د رجا شاعر

لا څه د ژوند په هر سنګر کښې مورچه زن یم درده
لامې شه تورې تېکه کړې او نه ډال اېښے دے

نادر خان عقیل وایي چې "درد صیب په دې عمر کښې ځوان غزل بیکي" زه د صفي الله خان د کره کتنې سره پوره اتفاق کوم - څه د ومره به زیات کړم چې باباجان (درد صیب) د یقین او د رجا شاعر دے، د حُسن او د خېر شاعر دے په لوئ الله یې کلک ایمان دے او د الله محبوب پیغمبرؐ سره یې لئ زړه نه کیتهمنټ کړے دے - چې:

ما د سپرلي شهزاده سره وعده کړې ده
چې عزت مړګه به رونه د ګلونو کوم

درد صیب خپلو لوستونکو ته د ژوند سره د سوز د تلو ستونزو، د محبت کولو حوصله بخښي او جُرات ورکوي - چې حالات که هر څه رنګ وي، ورنه فراز نشه، ورغاړه وتل

صحیح رَویه ده- درد صیب د محبت په قوت او طاقت دومره زیات اعتماد لري- چې د ذاتي، قامي بلکه د نړۍ د ټولو موضوع ګانو علاج پې ګڼي- ؎

د محبت اعجاز مسخ او کړه مه
چې د نفرت له اذیت او وځې
راز د خپل تخلیق راته عیان کړو محبت
ژوند زما فاني و، جاویدان کړو محبت

د درد صیب د شاعرۍ ټولو نه شوخ او څلند اړخ هم دا دے چې د ټولو مثبت قدرونو پاسداري کوي، د ټولو منفي قدرونو نفي کوي-

زمونږ موجوده معاشره جاګیردارانه او سرمایه دارانه معاشره ده- او د وسائل او د دولت غیرمساویانه بلکه غیر منصفانه تقسیم لري- زمونږ ماحول د بارودو له ګرد او د فرقه واریت له تورو لوګي نه ډک دے. موجوده دور د کلاشنکوف او د لاقانونیت د کلچر دور دے، د تشدد او د تشکیک دور دے، د پاسه پرې معاشي فشار او د لادیني قوتونو یلغار، په داسې حالاتو کښې ساه اخیستل ګران شي- د محبت زمزمې او د رجا سندرې وئیل خو د هر سړي کار نه ښکاري- په تېرو تېرو په ګاونډي ملکونو

کښې د استحصالي قوتونو فساد او شر د انساني معاشرې په روڼ مستقبل سواليه نښان لګولے۔ درد صيب خود سپين پوشې کورنۍ حساس فرد دے۔ چې دا هر څه لۀ نورو نه زيات په شدت سره محسوسوي۔ سره د دې چې دے توتو ستونزو سره مخامخ دے۔ دا د درد صيب ظرف دے چې وائي:

پۀ خوله خندا کوي پۀ زړۀ کښې ئې د وينو ډنډ دے
سلام دې درد ته وي ټول درد د خودرومن نۀ لګي
چې د حالاتو لۀ غورزنګ نه شکست اونۀ مني
کۀ نور څۀ نۀ وي د زخمونو ډيوې بلې لره
پۀ تورو شپو کښې د سحر پۀ يقين ژوند تيروو
زړګيه تۀ د اُميدونو ډيوې بلې لره

ويل شي چې غَم نه جام ته د هغو ځيزونو دُرد اوکشيد توئيږي۔ چې کوم ځيزونه غَم ته اچولے شوي وي۔ خو زۀ حيرانه يم چې د درد صيب پۀ ذات او اندرون کښې څومره ښائست دے، څومره ښکلا ده۔ چې هغه پۀ دې حالاتو کښې هم د ښکلا او د رڼا زيرے راکوي.

ھ دماحول خبره نۀ ده، زۀ هم اوسم ستاسو په کښې
زما ذهن ښائيسته دے، د رڼا خوبونه وينم

زهٔ د خپل اوچت فطرت له برکته
تکه گُل خندا کوے شم په ازغو کښې

درد صیب محبت او یقین عام کول او غرور ول غواړي او مایوسي لرې کول غواړي- او دې دپاره د شعر او د شاعر په اهمیت زور اچوي- شعر د الهام برخه گڼي .

چې تر شو ملاو پورې راشي نو غزل شو
امانت ؤ یو تحریر زما په ذات کښې
څوک پیغمبر شي ،څوک شاعر شي درده
په چا غزل ،په چا کتاب نازل شي

شاعر د پیغمبر وارث گڼي- او وائي :

بې قدره زمانې د شاعرانو قدر وکړه
که مړې شوې داد تکړ څو دیوې نو څه به کړه
دا چې لږ غوندې رڼا ده ، شاعرانو ته دُعا کړه
څو دیوې دي چې بلیږي ، د رڼا په سباریه کښې

درد صیب نهٔ یو اِزم مني او نهٔ بل- او داسې معاشره غواړي چې بنا یې په محبت او ورورولۍ وي- دا اسلام معاشره.

محبت چې پکښې جرم نهٔ وي درده
زهٔ د هغې زمانې په انتظار یم

عشق و حُسن يُ چې واخېښل پهٔ دَرد کښې
بيا يُ زړهٔ کړو دا خـــــيښ زما پهٔ ذات کښې

يو خبره زهٔ هم پهٔ يقين سره کوم چې (باباجان) زموږ د کور هر بنده ته دومره وافر محبت ورکړے دے. چې نن زموږ کور د ارضي جنت ښکلې او مثالي نمونه ده.

نادیه درد
طالبه ایم اے اُردو

# تاثرات

بل د "درد" غزل اوچت دے
چې د مینې ترجمان دے

ارواښاد ایوب صابر

شرافت دې نمونه ده، لیاقت دې دے منلے
ژوند دې پېټې لۀ چانه نۀ دے خلاء ئې پاتې د کنا دې
د اُردو شاعرۍ هم کړې، سلیقه لرې د دواړو
خو شعرونه د پښتو دې بې لۀ شکه لاجواب دې
مرتبه دې پۀ تنقید کښې لۀ صابر سره ده سمه
او خوبۍ دې پۀ غزل کښې قلندر ته د جواب دې
چې تر څو پښتو لیکه شي د تا نوم به پکښې اخلي
"درده" ستا ښکلې غزلې پۀ دې لمه کښې ګلاب دې

نور شاه جهان انور خټک

کۀ په مرونو کښې غزل دے نو د "درد" غزل دے
نظم نیمګړے دے جذوب او د فریاد نه بغیر

سلیم قرار

کتل مې چې عکسونه په شیشو کښې د ادب
څرګند په ائینه کښې د غزل شولو یو "درد"

نادرخان علیل

د لفظونو لۀ حرمت ځنې خبر دے
هر احساس، هره جذبه ئې الهامي ده
د رومان په پسول هر بیت ئې دے پسوللے
غزلبې کښې ئې د شعر حکمراني ده

یوسف خان جذاب

# چاپېلد

اوس ته مې ګوزاره کړه، سپېلنې مې کړه
خدايا! په خپل عشق کښې لېونے مې کړه

پروت دې په سجده يم درد دې نه لرم
زه دې فرشته نه يم، سړے مې کړه

ګل بغير د ځان نه چاته نه ګورې
غم چې د ټول باغ کوې ازغے مې کړه

يا مې د يتيم د سترګو اوښکه کړه
يا د چا د خوښ زړه اسوېلے مې کړه

تا نه ماسوا چې پکښې وسوزې
داسې سره لمبه، داسې لوګے مې کړه

"درد" بغير د عشق نه د ګور مړے يم
بيا د عشق شعله راکړه ژوندے مې کړه



PUKHTO.NET

# نعت

داسې ښکلې وخت مې تېرېدهٔ په مدينه کښې
خيال د کلي کور کله راتهٔ په مدينه کښې

کيف وُ، سرشاري وه ، سرمستي وه ، خُمار وُ
ما چې کوم حالت د زړهٔ ليدهٔ په مدينه کښې

"زړهٔ او روح" مې دواړه لهٔ ګُلاب تروتازه وو
"سترګې او بانړهٔ" کهٔ وو لامدهٔ په مدينه کښې

دا د کوم سخي د کور ميلمه ووم چې غني شوم
سوال مې کله رانغے تر خولهٔ په مدينه کښې

"سترګې او زړهٔ" دواړه لا تر اوسه پسې ژاړي
ښه وشوه چې پاتې مې شو زړهٔ په مدينه کښې

پام به کوې "درده" ګُستاخي درنه ونهٔ شي
ګوره چې پټک نهٔ کړې خپل بانړهٔ په مدينه کښې

PUKHTO.NET

## غزل

ناست وي په محفل کښې خو تنها لګي
پته د مينې سرې صفا لګي

دا واړه ارمان دې د سرو شونډو دے
ته که دروغ هم وائې رښتيا لګي

زۀ يې د خوشحال غونډې په جار منم
ښکلي کښې خلقه! د هر چا لګي

نۀ غواړې، د زړۀ علاج مې نۀ غواړې
وايه کښې څۀ د مسيحا لګي

زۀ چې د چا بل ښکلي صفت کوم
خدائې خبر چې ولې بد په تا لګي

نن او په ستم کښې فرق آسان نۀ دے
ښکلي موږ ته څه بې وفا لګي

غشي چې کاږهٔ وي هدف نهٔ لګي
ستا بانهٔ کاږهٔ دي خو رسا لګي

وې لیدم، مُسکې شوه، رو يې ووئيل
"درد به مې پهٔ تنهه خاخا لګي"

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## خوشحاله!!!

سُخنوره، دانشوره، باکماله
داد دې ولخیستو پهٔ زوره لهٔ اقباله
د پښتو ژبه دې ځکه لهٔ اسمان کړه
"آفرین دې پهٔ وئیلو شه خوشحاله"

دروند چې دومره بار يې د ګټونه شي
ماتې چې ملاګانې د جلکو نهٔ شي

خپل اوږدهٔ بامنهٔ دې پهٔ مزه ځمبه
ښخې دې لشې پهٔ اننګو نهٔ شي

يا به ستا کوځې ته يا صحراته ځي
بل چېرته ګُذران د ليونو نهٔ شي

زړهٔ نه به مې وونړي هغه څهٔ رنګه؟
څوک مې چې وتلے لهٔ لېمو نهٔ شي

ستا د خونکارۍ قيصه کوم ورته
غوايم رقيبان چې درنږدو نهٔ شي

سر مې دې سر وخوري، پهٔ سر څهٔ کوم
دردهٔ محبت چې بې پښتو نهٔ شي

## غزل

درد

په یک محفل کښې مې چې تا ته کتل
خطا منم ، خو ما به چا ته کتل

ښه وشوه ګُله! چې تنها پاتې شوې
نهٔ دې خلوص ، نهٔ دې وفا ته کتل

چې د چا زړونو ته یې او نهٔ کتل
دا یې زما د زړهٔ رضا ته کتل

څومره دانهٔ ، څهٔ پښتانهٔ خلک وو
چا چې پښتو ، چا چې حیا ته کتل

شا ته چې اُو نهٔ ګورئ کاږې به څُو
د ژوند په دشت کښې نشته شا ته کتل

هغه نظر څهٔ بل نظر وُ "دَرده"
هسې خو یار ټولې دُنیا ته کتل

شپول حُسن د مروتې په وياړ وکښې
لکه ګُل چې شګُفته وي په ازغو کښې

د اشنا تيمې به ولې خوږې نه وي
خوند د شونډو يې شامل شي په تيمو کښې

تا چې تورې کړلې لا نشه نشه شوې
جوړ شراب دي وو لړلي په رنجو کښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

نوے نسل دے او نوې زمانه ده
نوې نوې لارې غواړي په پښتو کښې

ما به ولې ويل چې "ګُل بې خاره نه وي"
د ولوَر رواج که نه وے پښتنو کښې

زهٔ د خپل اوچت فطرت له برکته
لکه ګُل خندا کومه په ازغو کښې

بې د خدایه چې ټیټ شوے نۀ وُ چا ته
نن مې کېښود همغه سر د تا په پښو کښې

ښکلي دغسې عارې دي له وفا نه
لکه نشته اتفاق چې پښتنو کښې

اوس نرمې د محبت پکښې مۀ غواړه
اوس د کاڼو سترګې عام شوې په ښېرو کښې

PUKHTO.NET

"درد" لا اوس هم د جنت خوبونه وینې
واړه عُمر یې کۀ تېر کړو په لمبو کښې

تهٔ چې شوې خپل حُسن ته حيران پهٔ آئينه کښې
ما ته اندازه وکړه د ځان پهٔ آئينه کښې

زهٔ لکه نظر درپېښې ورک شوم پهٔ امکان کښې
تهٔ لکه جوهر راته پنهان پهٔ آئينه کښې

ګوټک به څۀ تعريف د خدوخال د ښکلو وکړي
ځان ته څۀ له ګورې ګلرخان پهٔ آئينه کښې

حُسن د ګل مخې يو پهٔ دوه راته لېدهٔ شي
زهٔ چې ورته ګورم د ارمان پهٔ آئينه کښې

زلفې دې سُنبل، سترګې نرګس، شونډې ګلاب دي
تا ته به خود ښکارې ګلستان پهٔ آئينه کښې

"درده" چې د چا څيرې ګرېوان ورته وریاد شو
لاڼې خپل وښتهٔ کړل پرېشان پهٔ آئينه کښې

وعده کول او بیا په انتظار کښې پرېښودل
د ښکلو زوړ عادت دے نیمه لار کښې پرېښودل

ذره هومره که ترس وے د ظالم ښېلتون په زړه کښې
دوه زړونه به ئې ولې په انکار کښې پرېښودل

ورمې د ګل، د زلفو په تلاش کښې او وتلې
اسان نه وې ګلشن په ډک بهار کښې پرېښودل

راتلونکو زمانو ته مو روښانه کړلې لارې
د وینو سرهٔ تاڼې مو په لار کښې پرېښودل

ګلونه چې نه زغورې د ګلشن لئه ګل چینانو
ازغې مو نور بیا ځکه ته په ګلزار کښې پرېښودل

اے "درده" چې ځکه چل ؤ، د معمول قیصه خو نهٔ وه
کټل د اشې په میخ سنګار کښې پرېښودل

PUKHTO.NET
پښتو ځاب ډبه

نهٔ وایم خطا دې خطا سترګو ته
سترګې دې بلا شوې بلا سترګو ته

خپله به یې خلقه ګوزاروسه ورېم
خپله مې ورزده کړه خندا سترګو ته

اوس دې یې غمونه د دُنیا غوارېي
او مې سپارهٔ زړهٔ د اشنا سترګو ته

یو یې بېچ کوم لهٔ بېهو، بل ګکي
زړهٔ ته به لاس نیسمه لاسترګو ته

یاره! زما مرګ ته اشارې کوې
سترګې دې قضا ته، قضا سترګو ته

اوس دې خبر وم بښکلو ته مهٔ ګوره
بیا به ګوته نیسې سبا سترګو ته

ګله! چې نظر مې په چا پرېوتو
بيا چې راستون نه شو په شا سترګو ته

هسې نهٔ وي "درده" لهٔ نظره شي
دا غزل ګوټې کړه د چا سترګو ته

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## دوران

د دُنيا د لارو چارو داسې رنګ دے
نن خاوند د تاج و تخت، سبا ملنګ دے
"د دُنيا په لوئې څهٔ باور خوشحاله
پرون دور وُ د خرم نن د اورنګ دے

ستا په رفاقت کښې چې تېرېږي وخت
اوس مې پروا نشته که ودرېږي وخت

څوارې دې قيمت په خپله څوله له ما
را دې وړي څواني که رضا کېږي وخت

څه ښکلې ګلان به پاڼې پاڼې کړل
هسې څو به درده نه يادېږي وخت

دا څو ګله! ستا په تماشه شو نن
دومره ګني چاته ايسارېږي وخت

اوس هغه زاړه قدرونه مه غواړه
تاته پته نه وه چې بدلېږي وخت

تا سره مې ژوند داسې تېر کړے دے
ته چې مروربږې، مروربږي وخت

څنې خلک بار شي په اوږو د ژوند
څنې خلک وي چې پرې نازېږي وخت

ما په محبت کښې لازواله کړو
"درده" کنې څې او فنا کېږي وخت

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## تجزیه

پېښې شه سترګې چې حیا نۀ لري
مات دې شي زړۀ چې د خدائ ډار نۀ لري
خۀ مُروّت، خۀ همدردي وي پکښې
کلي دې ورِ شه دې چې بازار نۀ لري

هغه يو تن دے اے مګرو! څو يو تن نهٔ لګي
د چا بخښه انجمن چې انجــــمن نهٔ لګي

ناصحه! تهٔ به مې همدرد وې څو همدرد نهٔ لګې
هغه قاتل به مې دُښمن وي څو دُښمن نهٔ لګي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

پهٔ دا وړه خېره موږ نه ټول جهان خفه دے
موږ چې دا غواړو چې پهٔ هر څهٔ دې قدغن نهٔ لګي

خُوبان کهٔ نهٔ وے دا جهان به ټول پيکه پيکه وُ
ګُلان چې نهٔ وي دو ګُلشن چاته ګُلشن نهٔ لګي

د چا کورونه داسې وران دکه ناړهٔ قبرونه
د چا مدفن هم تاج محل ګکي مدفن نهٔ لګي

پهٔ خولهٔ خندا کوي څو زړهٔ کښې ئې د وينو ډنډ دے
سلام دې "درد" ته وي ټول درد دے څو دردمن نهٔ لګي

مهٔ غواړه پهٔ عشق کښې اش دومره زر
کوم یو بُوټے نیسي ثمر دومره زر؟

دا د وصل شپه نهٔ ده چې والوزي
هجر کښې وي چرته سحر دومره زر ؟

دومره زر لهٔ خپلو وعدو واړېدې؟
اوړي موسمونه مګر دومره زر

مهٔ درومه، ښېرې به درته وکړي څوک
مهٔ لُوګوه ټُلې ګودر دومره زر

لا خو پهٔ دیدن باندې ماړهٔ نهٔ وو
لنډ شو د عُمرونو سفر دومره زر

ګُله! لهٔ ما "درد" نه چې خفه نهٔ شې
تا نه کله اوړي نظر دومره زر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

سترګې يې ست کوي بانړه يې اِنکار هم نه کوي
چې مطمئن مې کړي په شونډو اقرار هم نه کوي

زما د زړه او د رقيب ځه عجيبه رِشته ده
دُعا هم نه غواړي رقيب ته، آزار هم نه کوي

زړه نه تن زړه پورې سفرکول کالونه غواړي
بې‌معنې زړه مې څه څه غواړي او وار هم نه کوي

نرۍ خندا دې د زخمونو خولې بيا پرانيستلې
داسې ستم خو به غوټيو بهار هم نه کوي

هغه د ګلې بجينۍ، ګله نه چې تۀ تلې يې
اوښکې کۀ نۀ څڅوي "درده" سِنګار هم نه کوي

ستا په وفا چې باور ېې شو، تن آسانه شو "درد"
خواهش د وصل هم کوي او زيار هم نۀ کوي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ستا پهٔ وعدې ناست، د اُمېدونو ښار کښې اوسو
موږ څومره ساده يُو د خوبونو ښار کښې اوسو

دا مو د زړهٔ زغم دے پهٔ ازغو کهٔ مو راکاږي وخت
خلکو ته موږ وايُو د ګلونو ښار کښې اوسو

هر سحر چې وږو لهٔ کور، سپينې جامې واچوو
تن مو ټول داغي دے د زخمونو ښار کښې اوسو

کله به دا څوک زړونه لهٔ ډېره درده وچوي
څومره غېر محفوظ يُو د بمونو ښار کښې اوسو

هر څوک دانشور دے څو همدرد به دلته نهٔ غواړې
زړونه دلته نشته د سرونو ښار کښې اوسو

"درده" زمانه دې وَس تمام کړې کهٔ فنا يُې کړو
موږه شاعران يُو، موږ د زړونو ښار کښې اوسو

# غزل

چې په وفا دې اعتبار پورې راورسېدم
بېقرارۍ نه تر قرار پورې راورسېدم

د زړهٔ مراده! چرته چرته مې ته اونه کتې
د بام لهٔ سر نه سر د دار پورې راورسېدم

وخت مې غرور د اعتماد داسې ریزه ریزه کړو
چې تر دُعا، چې تر آزار پورې راورسېدم

شمه ته وایئ د یوسف غوندې ارزان خرڅېږم
را دې د مصر تر بازار پورې راورسېدم

په سر مې بلې لمبې یو وړې خو ماحول مې روڼ کهٔ
لکه د شمعې تر سحار پورې راورسېدم

د عشق په لاره د ازغو په څوکو ټک ئې "درده"
پرهر پرهر وم خو تر یار پورې راورسېدم

وخت مې لۀ زړۀ جانان بهر اوباسي
صدف به مات وي چې ګوهر اوباسي

د "وينو داره" او "ساه" دواړه ووزي
زما لۀ زړۀ نه چې خنجر اوباسي

ورځم چې زۀ ورته لمبۀ کوګے کړم
اورم چې يار مې خپل نظر اوباسي

لوئ قيامت به پۀ تېرېږي پۀ سر
هغه چې ما لۀ خپل خاطر اوباسي

کۀ غلونه نۀ دي نو دا خلک ولې
خپلو بنګلو کښې شاته ور اوباسي

رازقه ربه! د روزګار ديـــاره
مېندې لۀ کور چې ښهر اوباسي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

د پنجرې ور به راته هم لرې کړي
لا خو مې پرونه د وزر اوباسي

بیا د یادونو موسم راشي «درده»
بیا د دردونو تېغې سر اوباسي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## د خوشحال خبرې

که په رنګ کښې د مجاز دي، حقیقت دي
واړه ډکې له پښتو او له غیرت دي
که غزل که قصیده که رُباعي ده
«د خوشحال» خبرې واړه نصیحت دي

دا د کوم يو دېوتا راج دے د سرو په ښارِيه کښې
چې خاموشه خاموشي ده د ژوندو په ښارِيه کښې

زهٔ يقين وکړم څنګه؟ چې مې ملک کښې مساوات دے
ما د خاورو کور اوښهٔ ليد، د ښکلو په ښارِيه کښې

دلته په صبر د ګرېوانونو، هلته شور د زنځيرونو
سم رونق دے برپا کړے لېونو په ښارِيه کښې

د زردار د تندې ګوټې لهٔ تشويش نه څکې ښکارې
د بانډو خلک آباد شول د شيشو په ښارِيه کښې

دا چې لږ غوندې رڼا ده، شاعرانو ته دُعا کړئ
څو ډيوې دي چې بلېږي د تيارو په ښارِيه کښې

غرونه لاړ کښې ورته ولاړ وو، دشتو څپې ورته واوې
څو د ګلو کاروان کوز شو د ازغو په ښارِيه کښې

چې شعور دې راپېښ زو کړو، چې زهٔ "درد" دې سنګه ورکړ؟
بیا دې ولې نهٔ پیدا کړم د رندو په ښارِیه کښې

## رُباعیات

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دلته نه ټک دے کهٔ څوک پوهېږي
د باد په مثل عُمر تېرېږي
د زړهٔ دُرِړا ته "درده" لږ غوږ شه
کاروان تیار دے نوبت غږېږي

ازغي کړل شي ګُلان شوکېږي
بلبلان کم شول، زاغان زیاتېږي
ماته څو داسې لیدهٔ شي "درده"
چې دا مالي وي باغ به ورانېږي

بې لارې خلک ځان ته لار پیدا کړي
موږ ته جواز د خپل کردار پیدا کړي

لوئ غنیمت دے چې په ټول عمر کښې
څوک یو بې لوثه خوندې یار پیدا کړي

د سپرلي بیا د راتلو یو جواز دے
ګُل که جواب ستا د رُخسار پیدا کړي

ستا د وِصال دُعا به پسته کوم
اول چې خوند دې انتظار پیدا کړي

زۀ به رقیب نه دا هُنر زده کوم
چې د یار زړۀ ته څنګه لار پیدا کړي

سر سلامت وړې لۀ دربار نه هغه
څوک سلیقه چې د ګُفتار پیدا کړي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

دُنیا کښې واړه لاړې بند کړې ورته
ستا لېونې به ځان ته لار پیدا کړې

"مجذوب" خو پرېږده، د مروتو ژمکه
ګرانه ده "درد"! چې بل "افګار" پیدا کړې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## رُباعي

د قسمتونو عجیبه وَنډه دے
په ګېډه وږے، په تن برېنډه دے
سلام مزدور ته په خوله خندا کړې
ښه یې ژړه کښې د وینو ډنډه دے

زړونه وړي پهٔ زور د لالي سرې شونډې
اور لګوي اور د لالي سرې شونډې

اوس ولې څهٔ کمې خونکارانې دي؟
سرهٔ غواړي لا ځوړ د لالي سرې شونډې

زلفې يې کهٔ ډيرې پهٔ سر وڅنې
کم به يې کړي زور د لالي سرې شونډې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ما به د ګلاب سره تشبيه ورکړې
رانهٔ کړي پېغور د لالي سرې شونډې

جام او لهٔ ساقي او لهٔ شرابو نه
زړهٔ به مې کړي تور د لالي سرې شونډې

زړهٔ مې راته وايي "درده" ښکل يې کړه
نهٔ به غواړي پور د لالي سرې شونډې

ښ چې نهٔ رادرومې نو د بیا خهٔ پته نهٔ لګي
تهٔ بې لوظه نهٔ يې د سبا خهٔ پته نهٔ لګي

زهٔ به مطمئن وم تا وعده راسره کړې وے
ماته د دروغو، د رشتیا خهٔ پته نهٔ لګي

داسې دُعا غواړه چې ازمېښت نه محتاج نهٔ شې
تاته د خلوص او د رِیا خهٔ پته نهٔ لګي

زهٔ خو فریادي یم عجب ښار د ناپرسانو دے
ماته راکوې ولې سزا، خهٔ پته نهٔ لګي

ورځ د قیامت ده کهٔ اوله شپه د هجر ده
خهٔ نفسانفسي ده د هیچا خهٔ پته نهٔ لګي

سترګې دې لمدې شوې چې یارغېږ پهٔ تا بدله کړه
"درده" ستا د غم او د خندا خهٔ پته نهٔ لګي

زړهٔ کښې محبت او سپینه خولهٔ کښې اور
کاڼي کښې اوبهٔ او پهٔ اوبهٔ کښې اور

داخو تا پهٔ سرو لبو اوبهٔ څښلې
ماوې څنګه بل شو پهٔ پیالهٔ کښې اور

اور مې پهٔ زړهٔ پورې کړو تنګي ارمان
لګي لهٔ ماشوم نه پهٔ کالهٔ کښې اور

زړهٔ زما قیصه چې بیا وریاده کړه
سوې شو لهٔ جینګۍ نه تنارهٔ کښې اور

کله چې پښتو نه قیصه ورسي
راشي چې لهٔ کومه پښتانهٔ کښې اور

زهٔ درنه پهٔ جام کښې شراب نهٔ غواړم
ماته ساقي واچوه پیالهٔ کښې اور

PUKHTO.NET

زهٔ د غم لهٔ اور سره بلد يمه
زهٔ يمه سپږلے نهٔ زيالهٔ کبې اور

هله که د درد غزلې وچېږې
خوند کوي د ژمي پهٔ سړهٔ کبې اور

* "گلؔ" درته رخصت شو "درده" وژاړه
خدائې ته گوره مهٔ ساته پهٔ زړهٔ کبې اور

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## غوښتنه

چې لږ تلخي د چاپېرچل کمه شي
پهٔ سپورو شونډو خندېدل غواړي
غم به دې واړه پهٔ خوشي بدل شي
د "درد" تړ کوره رسېدل غواړي



* ارواښاد [illegible]

ځواني د ښاپېرو د کلي شپه ده اے ملګرو
هوا به شي اُخ د ګل وږمه ده اے ملګرو

منم چې لږ به ما هم ياں په سر وي خښړولے
ښايسُت پېغله هم فتنه نشه ده اے ملګرو

PUKHTO.NET

يو درد دے چې مې ټول بدن کښې شورېږي لکه وينه
يو نوم دے چې په زړۀ مې کشيده دے اے ملګرو

لۀ ګل نه چې نازکه، لۀ سپوږمۍ نه ښايسته ده
زما د زړۀ ملوکه هم هغه ده اے ملګرو

ښايسُت او د رنګونو شهزادګۍ چې ورته وائي
د شعر په ګُل دَره کښې مې ديره ده اے ملګرو

چې اورم يې زۀ "درد"، زما زړګے اره اره کېږي
غزل دے په پښتو کښې کۀ ټپه ده اے ملګرو

د ښکلو داسې مزاجونه ځکه دي
ملګرو! ما خو زيات لاسونه ځکه دي

دغه اطمنان په غلونو ولوټلم
چې مې د غولې ديوالونه ځکه دي

پرون په موږ باندې زندان اباد ؤ
نن مو په دار باندې سرونه ځکه دي

اوس که ديوال راځي که دار مخې ته
د حق په لار مو قدمونه ځکه دي

د نوح کشتۍ به چې لا کله راځي
زيات له سرو، ته طوفانونه ځکه دي

کوم خوا ته لاړ شو له ناسپېندو "درده"
زمکه ده سخته، اسمانونه ځکه دي

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

پښتو پالي، غیرت کړي درانه وي ځيني خلک
مېړنه په نام و ننګ وي پښتانه وي ځيني خلک

آسمان ئې په سر تندر وروي که سپينې واوري
ولاړ په خپل مقام لکه د غره وي ځيني خلک

ممه چې ځان خوږ دے له هر څه نه له هرچا نه
خو خدائے شته چې له ځانه هم خواږه وي ځيني خلک

تر عمره لا حوصله انتظار د جوهري کړي
ايرو کښې د "هيرو" غوندې پراته وي ځيني خلک

په زړو کښې يو نيم وي چې هرچا له مشال شي
ډيوې وي خو د ګور او د کاله وي ځيني خلک

چينې د محبت ئې وي روانې په سينو کښې
هر څو که په ظاهره لږ تراخه وي ځيني خلک

ارمان د بيا ليدو ئې "درده" پاتې شي دوئ لاړ شي
د "ګل" غوندې د ورځو ميلمانه وي ځيني خلک

# غزل

پتنګ د زړهٔ لۀ سوزه اور اخلي
دا شمع هسې پۀ سر تور اخلي

د درد سېلاب به لا پۀ پوره ته خېژي
عشق چې زړېږي لابه زور اخلي

زړهٔ مې غمونو ته لمبه ورکوي
ساقي لۀ جام نه دې لږ اور اخلي

ځئ چې خپل سر ورته ټلي کښېږدو
ځوک به د مرګ د ډار پېغور اخلي

بلې ډېوې دې اننګې دې نۀ دي
کله چې وې نقاب دې اور اخلي

چې د هر چا وې خو چې ښۀ غزل وکې
"درده" لۀ مانه داد پۀ زور اخلي

د مزدور د درد خبرې په محفل کښې
څۀ تضاد مو دے په قول او په عمل کښې

ترپوون به چې له سر د دار کېدلې
نن هغه خبرې کېږي په غزل کښې

محبت په تشه نۀ غواړو له ښکلو
موږه زړونه دي ورکړي په بدل کښې

زۀ به کوټې په ازغو سُورمه وورمه کړم
ته قطار قطار ګلونه بږده وربل کښې

د جونګړې ژوند دې نۀ تریخوي "درده"
پُرسکون که اوسېدل غواړې محفل کښې

PUKHTO.NET

د زړهٔ زخم کهٔ هر څو ؤ ژور، وچ شو
تا چې لاس ورباندې کېښود پرهر وچ شو

چې زما او ستا دوه مونه پرې کنده وو
دګودر د لارې هغه نښتر وچ شو

ګوندې ته ئې د وربل د پاسه زيب کړې
پهٔ دا حيله ګل د ښائستګې پهٔ سر وچ شو

مارغان والوتل لهٔ جالو "تاڼ پهٔ تاڼ" شول
چې ماحول واړه ټوګے شي شجر وچ شو

څهٔ پهٔ شوق به مې ستا سترګې پرې کتلې
هغه سترګې اوس ړندې شوې نظر وچ شو

هغه "درد" چې د ځوانۍ ښکلے تصوير ؤ
د چنار غوندې شاداب ؤ مګر وچ شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زهٔ چې څمه ستا لهٔ وره، مرم
او چې اوزم ستا لهٔ زړهٔ، مرم

دغه مړک څومره حسين دے
يار پهٔ ما او زهٔ پهٔ دهٔ مرم

ستا د حُسن خامې منهٔ ده
زهٔ سختجان يمه چې نهٔ مرم

د وصال پهٔ خوند پوهه نهٔ شوم
زهٔ لهٔ ډار د بېلتانهٔ مرم

پهٔ خيل ژوند څکه غاړه يم
چې پهٔ درد د بېلتانهٔ مرم

چې پهٔ مړو سترګو مړ نهٔ شم
"درده" نور به زهٔ پهٔ څهٔ مرم

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نيټ

خپله يو بل پهٔ كانړو ولي خلک
خو ماته يو شي ستا د کلي خلک

پهٔ تا هغسې خپل سرونه شيندې
د تا لهٔ لاسه دردېدلي خلک

اخر ته دار پورې راورسيدل
ستا پهٔ تالاش كښې راوتلي خلک

زما پهٔ څکښې دې نامه نهٔ اخلي
څومره نا ترس دي ستا د كلي خلک

سوال د وفا هميش لهٔ ښكلو كوو
پهٔ زړونو هم ښکلي وي ښکلي خلک

څومره پهٔ شوق زما غزلې لولي
پهٔ ما مئين دي نالېدلي خلک

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د پښتنو تعریف به ولې نهٔ کړم
ښاغلي خلک وي ښاغلي خلک

پهٔ تا به څوک د خون بها دعویٰ کړي
تا پهٔ خندا دي قتل کړي خلک

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د شرافت زمانه تېره شوله
نن سبا ډېر دي "نوٙ ایستلي" خلک

د چا پهٔ زړهٔ کښې دې جوړه کړے دے کور
څومره ژور دي "درده" غلي خلک

لا به دې خندل نۀ او لا ژړا نۀ دے پکار
بيا چې پښېمان ئې داسې کار نۀ دے پکار

ماته ئې زما خبره وکړه او روان شو
"ښځۀ وائې پۀ هرچا اعتبار نۀ دے پکار"

دومره ډېر دُښمن د محبت نۀ دے خو ضد کړي
بيا هم د ناصح سره تکرار نۀ دے پکار

ستا زړۀ دې ماتېږي چې د ښکلي زړه مات نۀ کړې
زړۀ چې درنه غواړي نو انکار نۀ دے پکار

"درده" لۀ گُلونو د بَورا غوندې خوند اخلـه
هسې د بلبل غوندې چغار نۀ دے پکار

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نیټ

ښکلي په زور له موږ نه زړونه غواړي
که د خپل حُسن خراجونه غواړي

د سیند په غاړه اوسیدونکي خلک
له تندې مړهٔ شول بارانونه غواړي

چې د سپرلو په لار کښې غنې کرې
هغه کسان هم سرهٔ ګلونه غواړي

تش په نارو انقلاب کله راځي
یاس په نېزو یو څو سرونه غواړي

دا مو کوم خلک د چمن واکمن کړل
موږ ته ازغي، ځان ته ګلونه غواړي

څهٔ عجیبه زمانه راغله "درده"
لېوني دشت کښې دېوالونه غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## غزل

قیمتي یم بې بها یم
د هوا غوندې وړیا یم

هر ظالم ته مقابل یم
زهٔ مظلوم د کربلا یم

زهٔ د وخت حاتم طائي یم
محبت وېشم ګدا یم

چې په نوم مې خطا نهٔ شې
ځان ته درد بل ته دوا یم

د زخمونو رفوګر یم
زهٔ د زړونو مسیحا یم

زهٔ طلب د سرو لاسونو
زهٔ د سرو شونډو دُعا یم

PUKHTO.NET
پښتو چاپ ځپ

زهٔ نیلسن یم ، زهٔ سقراط یم
زهٔ غلام د مُصطفیٰ یم

خپل فطرت سره په جنګ یم
زهٔ د وخت د زړهٔ دُرَزا یم

ټولې
د یارانو انجمن دے
خو زهٔ هغسې تنها یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

اعتبار مې پېدا نهٔ کړو
د غریب د خولې وینا یم

د شاعر د خولې غزل یم
د الهام ډکه صدا یم

سخن فهمه یاران خهٔ شول
"درده" بیا غزل سُرا یم

دګل څڅه حال شو او بلبل ته به لاس څخه ورغلل
عشق کښې دا نه وي چې يو بل ته په لاس څخه ورغلل

دا ته به هم ګورو چې باغ يې معطر کړو وار ه
يو دا به نه ګورو چې ګل ته په لاس څخه ورغلل

ما خو اعزاز د شهادت وموندهٔ، قتل دې يم
دا راته وايو چې قاتل ته په لاس څخه ورغلل

تيارې د جهل به خورې شي که شاعر غلي شي
ډيوه چې مړه شي نو محفل ته په لاس څخه ورغلل

دا زما فرض وو چې غزل ته د زړهٔ وينه ورکړم
دا دې بل ګورې چې غزل ته په لاس څخه ورغلل

"درد" که په دار شو د انسان مقام يې لا اوچت کړو
ته حيرانيږه چې پاګل ته په لاس څخه ورغلل

ځکه بې درده ورځې شپې دي
بیا د هجر زمانې دي

محبت یو حقیقت دے
نورې وارې فسانې دي

درته ګورم، درته ګورم
ناتمامه سلسلې دي

خلک نهٔ پرېږدوي خوب ته
هغه سترګې چې اودې دي

عاشقانو وفا پرېښوه
معشوقې خو معشوقې دي

تهٔ چې ولې خبر نهٔ شوې
ګنې زړونه خو شیشې دي

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

مصلحت ته کله ګوري
داد زړو څو فیصلې دي

څوک يې ولیدله "درده"
د ګلاب په څېر خولې دي

# ګټه

داسې سپک به راته نه ګورئ ملګرو
زما زیان نه ، زما ګټه د کټو ده
که زما د ځیګر وینه يې نڅوړ کړه
د پښتو د غزل "جټه" د کټو ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ستا واړه جلوې مې په نظر کښې نه ځائیږي
دا هغه شراب دي چې ساغر کښې نه ځائیږي

یا دغه فتنې دي چې د یار لمن کښې پټې دي
یا دغه فتنې دي چې محشر کښې نه ځائیږي

شونډې پستې شونډې یې له ډېره خوندهٔ وچاودې
رس چې کله پوخ شي په ثمر کښې نه ځائیږي

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نیټ

بیا هم خدائې ته ګوره برندې سترګې چې واړهٔ ړدې
غشي د بڼو کهٔ نور ځیګر کښې نه ځائیږي

یا به ستا غمونه ګرزوم یا د دُنیا لانجې
سل واړه قیصې مې په دې سر کښې نه ځائیږي

یو تهٔ دلته نهٔ وې هشتنغر ورته دوزخ وُ
اوس هم هغه "درد" دے هشتنغر کښې نه ځائیږي

# غزل

تهٔ وعده هېره کړې خو ما دې انتظار کړے دے
تا دکوم پهٔ خامهٔ تل پهٔ ما ختاتار کړے دے

د ظرف خبره ده کهٔ ډېر ئې دردونه ليمه
ما نهٔ گيله کړې ده چاته، نهٔ اُزار کړے دے

پښتو ئې سر ته رسولې نهٔ ده خوښ پهٔ دې يم
دُښمن پهٔ ما باندې د شا لهٔ لورې وار کړے دے

تا گټه وړې ده او ما د زيان سَودا کړې ده
ما مُحبت کړے دے گُل! تا کاروبار کړے دے

ما لا گيله ورنه کوله چې لهٔ ناز ئې اووې
"تا لهٔ بچا غوښتې ده خوگه او چا انکار کړے دے

عقل دې وائي چې خهٔ وائې زهٔ پښېمانه نهٔ يم
ما چې د زړهٔ پهٔ اشارې باندې کوم کار کړے دے

تا چې اخته کلي ته نهٔ وړو، "درده" هغې جينۍ
نهٔ خپل لاسونه دې سرهٔ کړې، نهٔ سِنگار کړے دے

PUKHTO.NET
پښتو دا تا نېټ

خپل مسیحا ته هر سړے په انتظار ولاړ دے
یو زهٔ خو نهٔ یم زما شاته واړه ښار ولاړ دے

رهبره! څوک به داسې لار ته د حق لار ووایٔ
چې نهٔ دېوال مخې ته راغے او نهٔ دار ولاړ دے

څهٔ عجیبه ده! د هغو خلکو لاسونه *ښکلیٔ
د چا د لاسه دا اولس چې په انکار ولاړ دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

غوټۍ به ګُل شي او ګُلونه به وږمې وشولي
هله، کهٔ خاندې د سپرلي کاروبار ولاړ دے

چې په حالاتو يې وس نهٔ رسي خبر دې نهٔ شي
"درد" څهٔ بې غمه د باروتو په انبار ولاړ دے



* ښکلوي

ښکلي چې اُ نهٔ کوي، دا نهٔ کوي، څهٔ به کوي؟
پهٔ چا کرم، پهٔ چا جفا نهٔ کوي، څهٔ به کوي؟

چا چې تېر لې د ژوند هره لمحه تا سره ده
هغه چې تا سره وفا نهٔ کوي، څهٔ به کوي؟

د پسرلي تازه هوا دې غوټۍ نهٔ تخنوي؟
او يا دې ګُل ورته خندا نهٔ کوي، څهٔ به کوي

د اوښکو څاڅکي يې کړنګ شول د ښځو پهٔ څوکو
اوس دې سلګۍ هم برملا نهٔ کوي، څهٔ به کوي

د محبت د بڼ هوا چې خوشګواره شوله
د زړهٔ طوطي مې دې هوا نهٔ کوي، څهٔ به کوي

"درد" دې شاعر کړو، زمانې ته دې ورو بښنده
لالیه! تا ته چې دُعا نهٔ کوي، څهٔ به کوي

PUKHTO.NET پښتو کتاب تون

ماکهٔ هر څو کړه ناکړدو ته آئینه قافیه
خو ستا لهٔ سترګو تاوېده راتاوېده قافیه

قامت دې دغسې موزون لکه غزل د "عليلؔ"
زلفې دې اوږد غوندې ردیف، ښکلې څېره قافیه

وړوکې خال دې د رُخسار حُسن څهٔ داسې زیاتٙ کهٔ
لکه دوچند کړې د شعر حُسن یوه وړه قافیه

PUKHTO.NET

الله دې نهٔ کړي چې د تا حُسن زوال وویني
الله دې نهٔ کړي چې لهٔ مانه شي خفه قافیه

زما غزل کښې نوے خوند، نوې معنیٰ پیدا کړي
هغه زاړهٔ زاړهٔ الفاظ، هغه زړه قافیه

تمامه شپه ئې وٙ نیولے یو تصویر سترګو ته
تمامه شپه ئې یو شاعر راورېده قافیه

نوے مضمون لاس ته سلام راته ولاړ وي "درده"
زما حضور کښې وي ولاړه دست بسته قافیه

زهٔ چې که موزون که ناموزون کړمه
ستا د خولې خبره به قانون کړمه

تل چې ستا غمونه مېلمه کړي دي
زړهٔ په دا خبره زهٔ پښتون کړمه

نور به دې تعریف د "کړهٔ وړهٔ" څهٔ کوم؟
زهٔ دې د غزل غوندې موزون کړمه

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

تا نه مې ګیله په خاطر نهٔ راځي
ستا ستم د بل سړي لمسون کړمه

تهٔ پوهه شه چې تهٔ مې څهٔ کړې ګُله!
زهٔ دې خپله ساه کړمه، ژوندون کړمه

پوهه نهٔ شو رقیب په ذومعنئ جواب
وائي ورته "درد" څو زهٔ مجنون کړمه

## غزل

اے د ښکلو مينې! ظاهرېږه مۀ
درد مې شه په زړۀ کښې اوښکه کېږه مۀ

ګل ته د هر چا سترګې ورواېږي
زۀ کۀ درته ګورم خفه کېږه مۀ

دا لا څۀ پښتو ده چې دې هېر کړمه
داسې پښتو وکړه رايادېږه مۀ

نۀ غواړم عيشونه درنه نۀ غواړم
اے د ځوانۍ عمره خو تېرېږه مۀ

اے د ګلو څانګې! ملا دې ماته شوه
ګورې اُښې ته څو شرمېږه مۀ

مۀ چېږه بمبرې "درده" مۀ چېږه
وينه ګوره هر څۀ څو غنبېږه مۀ

زهٔ چې په وصال او په هجران کښې فرق کولے شم
ښکارې چې په ځان او په جانان کښې فرق کولے شم

کله به جنونه! ما آزاد لهٔ هره غمه کړې
لا خو په لمن او په ګرېوان کښې فرق کولے شم

سُود به هله وکړم چې د سُود نه بې‌نیازه شم
زیان کښې یم، تر څو چې سُود او زیان کښې فرق کولے شم

دا به بوالهوس وي چې جانان ته ستمګر وائي
زهٔ خو په ستم او په احسان کښې فرق کولے شم

مینه د لمسې وي کهٔ د زوئې وي مینه مینه وي
زهٔ کهٔ په "محسن" او په "احسان" کښې فرق کولے شم

"درده" چې د دواړو احتیاج ته مې نظر وکړو
څه ئې کو کهٔ ګدا او په سلطان کښې فرق کولے شم

ستا لهٔ زړځو سترګو چې وحشت نهٔ ځي
دا به مې نظر نه شرارت نهٔ ځي

لا دې بانهٔ هغسې کاږهٔ ګورې
خوئ لهٔ پښتنو د عداوت نهٔ ځي

ستا کتو نه پس به چاته څهٔ ګورم
سترګو نه مې لا هغه حيرت نهٔ ځي

ماته اول ګران وو هېرول د يار
اوس زانه احساس د ندامت نهٔ ځي

کُټ بهٔ اور کښې ويلې شي زړ پاتې شي
زړهٔ نه هوس لاړ شي، مُحبت نهٔ ځي

نهٔ ځي ، لهٔ ګلرُخو بې رُخې نهٔ ځي
سر د سړي لاړ شي خو عادت نهٔ ځي

ورشه "درده" يار ته سرتيټې وکړه
دا باندې پښتو نهٔ ځي، غيرت نهٔ ځي

PUKHTO.NET

تهٔ ښایست، زهٔ دې سِنګار یم
ګُلې ستا د غاړې هار یم

تهٔ غزل، زهٔ غزلګو یم
تهٔ مې فن، زهٔ دې فنکار یم

تهٔ ښایست، زهٔ محبت یم
تهٔ یو ګُل، زهٔ دې بهار یم

واړه ګرمه پهٔ سر اخلم
ښکلیه! زهٔ دې پرده دار یم

پهٔ فراق کښې پُرسکون یم
پهٔ وِصال کښې بېقرار یم

نهٔ د چا د لار دېوال یم
نهٔ د چا پهٔ اوږو بار یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## غزل

زما یوه معشوقه نهٔ ده
زهٔ د حُسن پرستان یم

ستا لهٔ حد نه وَتے نهٔ شم
کهٔ آزاد لکه پرکار یم

دا تهٔ څهٔ رنګه ساقي یې
زهٔ لا هغسې هوښیار یم

بل هُنر مې کهٔ زده نهٔ دے
محبت کښې پُخته کار یم

زما بېل انداز دے "درده"
نهٔ "سهیل" یم نهٔ "افګار" یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

خدایږده خزان به کوم انجام ته رسول ګلونه
سپرلے دې ښکر کړې چې تا وشوکول ګلونه

خدایا! زما سینه چې بیا ولې ازغې ده
ما خو به تل د بل په لاره کښې کرل ګلونه

زړه مې که پښتو د لاندې مزې دادې زوړ عادت دے
ته چې وړه وې تا به ګوتو کښې مښل ګلونه

زما په زړه دې د رنګونو بارانونه وکړل
تا چې له ناز په سرو شونډو ښکلول ګلونه

ما له سپرلي نه د یار زلفو ته ګلونه غوښتل
نن مې هغه د یار په قبر وشیندل ګلونه

زړه کښې مې پټې نرې شونډې یادولې "درده"
ما په محفل کښې په ظاهر که یادول ګلونه

میکده ورانه پرته ده
څومره لویه حادثه ده

ته له ماته ګیله من یې
دا لا بله تماشه ده

د اغراض تورو تیارو کښې
محبت بله ډیوه ده

ماته ولې پرنا یووړې
دغه ته، دا آئینه ده

څومره شر شو ورنه پورته
او قیصه څومره وړه ده

هغه هم په ځان غره دے
مینه هم مې ښتنه ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

تا ته هر څهٔ کاږهٔ ښکاري
زړهٔ دې ماته آئينه ده

"درده"! واړه غم خوداده
چې پهٔ نهٔ قيصه خفه ده

# قاتل کهٔ نقاد؟

چې پهٔ "مجذوب" يې خاورې واړولې
څهٔ پهٔ آسانه يې "قرآن" قتل کهٔ
"درده" نقاد وُ کهٔ قاتل وُ هغه
زما د ښه يې فنکار قتل کهٔ

لهٔ مرګ نه سخته په ځان نهٔ قبلوي
مرګ قبلوي زړهٔ هجران نهٔ قبلوي

په کوم محیاں يې زهٔ یاران وګنېم
ګلته مني خو دستاوان نهٔ قبلوي

په ظالمانو "اکرهٔ" شته ورَوي
دا یوه دُعا مې اسمان نهٔ قبلوي

لهٔ کبرجن جانان به څهٔ وایمه
زما لهٔ لاسه ګلان نهٔ قبلوي

جرګه دې ما ګرم کړي خو جوړ مو دې کړي
خېر دے کهٔ *پښه جانان نهٔ قبلوي

د عشق فطرت هم د پښتون فطرت دے
په هیڅ صورت رقیبان نهٔ قبلوي

په دې لمبه لمبه ماحول کښې "دردهٔ"
غزل مې رنګ د رومان نهٔ قبلوي



* قدرتي آفت، کاڼي وریدل - بنوته نژدې سیمه ده چې کاڼي پرې وریدلي" اکرهٔ" يې بولي.

د رقیبانو د طعنې دې کړمه
بې ننګه یاره بې مزې دې کړمه

لا د راتلو نېته یې تېره نۀ وه
مړګیه! یار ته بې وعدې دې کړمه

خلک لۀ ما او زۀ لۀ خلکو بدل
خدایا! د کومې زمانې دې کړمه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

څۀ عجیبه تهوقه دې وکړه پۀ ما
اسره دې راکړه بې اسرې دې کړمه

څۀ د جوابه طنز یې وکړو پۀ ما
«"درده" زده دې کړم ذرې دې کړمه»

محبت مې يو په دوه شي چې غـصه شي
له غصې چې تكه سره شي لا خوږه شي

واړه عمر مې په دې عذاب كښې تېر شو
هسې نه چې بې سبب راته خـفه شي

چې وعده وكړې هندکۍ غونډې په شا شي
چې انكار وكړې نو كلكه پښـتـنه شي

اے د وصل شپې! احسان به دې منمه
كه د هجر له شپې لږ غونډې اوږده شي

ټول رنګونه مې راغونډ شي په ككو كښې
چې در وګورم او زړه زرغـونه شي

كاش! چې داسې وخت كښې زهٔ درته درياد شم
ائينه كښې چې د ځان په تماشه شي

پۀ دُعا شمه چې ملا دې ماته مۀ شه
چې د بام پۀ سر لۀ ښان کښېنه ورېه شې

د چا غم کښې به تۀ څۀ لوګېږې "درده"
ښه به نۀ وې چې پۀ يو وارې لمبه شې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## رَدِعمل

کۀ لږ د کار سړے وې قتل به شې
پۀ خپلو سرو وينو کښې ډوب به دې کړي
تۀ کۀ سقراط شولې نو زهر به څکې
کۀ مسيحا شولې مصلوب به دې کړي

## بيت

څوک پېغمبر شي، څوک شاعر شي "درده"
پۀ چا غزل ، پۀ چا کتاب نازل شي

مخ نه دې شرمېږي د آفتاب او د قمر حُسن
قد ته دې حېران دے په خپل قد د صنوبر حُسن

صبر مې چا لوټ کړو زهٔ به چا، چا ته غل وایمه
ستا هره ادا ده زړه راښکونکې، هر نظر حُسن

ګوره چې وښتهٔ یې په سپین مخ دې پرېشان پراتهٔ
زهٔ به څهٔ ګیله کړم چې لهٔ ځان دے بې خبر حُسن

PUKHTO.NET

دا چې اننګي یې سرهٔ ګلاب شي چې مې ووینې
دا مې د نظر په تقاضو شو جوړ خبر حُسن

زهٔ یې د احساس په سرهٔ انګار کښې تاړه کړے یم
تاسو به بیدلے وي کهٔ نهٔ وي مرور حُسن

خلک "درده" هسې ښاپېرۍ د کوهِ قاف ستایيُ
حُسن خو د ښو دے یا بیا د هشتنغر حُسن

باغ کښې داسې ښکلي ګلان چېرته وو
ګله! ستا د شونډو په شان چېرته وو

خوړ مې شو جولۍ کښې د ګلاب په شان
داسې مې ګومان په جانان چېرته وو

بیا يې څوک مقتل ته روان کړے دے
خلک دې ډلې روان چېرته وو

زه يې چې لۀ "بدو" منع کړے وے
داسې نېک طینته کسان چېرته وو

زړۀ يې چې غوښتل په سرو غرمه راشه
مړۀ وو کۀ اوده، رقیبان چېرته وو

"درد" دې چې لوټله خزانه د غم
ستا د توروزلفو ماران چېرته وو



PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

نهٔ د خپل ماحول نقاد دے، نهٔ د نوي دور نقیب دے
د لفظونو جادوګر دے، نهٔ شاعر دے نهٔ ادیب دے

ن سبا داسې یاران دي، د یُوسفؑ برادران دي
چې د چا څومره دوستان دي، هغه هومره بدنصیب دے

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

د شهابې په حُسن، ماته داسې غضب جوړ کړ
هو سړے زما دُښمن دے، هر سړے زما رقیب دے

لهٔ یو بل نه به څاربږو، پهٔ یو بل به زهیربږو
د ورورولي چې پکښې عام وي، هغه وخت هم راقریب دے

څهٔ کشش دے پهٔ دې لار کښې، چې رونق ئې لا زیاتیږي
کهٔ هر څو د حق پهٔ لار کښې، پهٔ قدم قدم صلیب دے

مُحبت او قرار دواړه، پهٔ یو زړهٔ کښې نهٔ ځائیږي
یار مې "درده" وفادار دے، زړهٔ مې "درده" ناشکیب دے

پهٔ ما به ډېر وکړئ احسان مه کړه
ما هم کهٔ وکړې انسان مه کړه

ژړونه مو يو رنګ او خندونه بل رنګ
زهٔ مو کړم دوئ کښې حېران مه کړه

الله مو ژغورهٔ د روزګار لهٔ غمه
کال کښې راياد نهٔ شي جانان مه کړه

پهٔ لبو پسته ، پهٔ لبو خوږه خبره
زهٔ به ټوټې کړم درته ځان مه کړه

عشق و هوس کښې به فرق پاتې نهٔ شي
خدائې دې وصال نهٔ کړي ارزان مه کړه

داسې پهٔ مينه د چا هم نهٔ کورم
لکه چې لولي څوک قرآن مه کړه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لکه شیشه په بهانه ماتیږي
د زړهٔ ساتل نهٔ دي آسان ملګرو

راځئ چې نن د هجر جشن وکړو
ټپه کړو پوره په قربان ملګرو

څوک چې دولت د محبت موندهٔ کړي
لکه د "درد" شي بې‌زبان ملګرو

## د زړهٔ ښکره

زړهٔ لرم او په هر رنګ یې ښاد لرم
زهٔ د زړهٔ نه خوږ د زړهٔ صیاد لرم
د دُنیا له سپېرهٔ غمه یې آزاد کړم
دا احسان به یې تر عُمره یاد لرم

مرګ هم ممکن نهٔ دے الله! ستا لهٔ رضا نه بغیر
ګڼې دا ژوند دے چې تېرېږي لهٔ اشنا نه بغیر؟

ښیستیا دې ګُله! چې ګُلاب چېرې بې خاره نهٔ وي
هر څهٔ درکړي دې خدائ تا ته لهٔ وفا نه بغیر

تهٔ دومره وکړه چې پهٔ خوږ زړګي مې لاس کښېږدهٔ
بیا راته وایه کهٔ روغ نهٔ شو لهٔ دوا نه بغیر

کاڼي دي کاڼي، د یو پیسې ارزښت نهٔ لري
زړهٔ محبت نه بغیر، سترګې لهٔ حیا نه بغیر

د زړګي کور مې بې لهٔ تا نه داسې وران لیدهٔ شي
لکه د کلي جومات کُومک شي لهٔ ملا نه بغیر

ما چې تول عُمر دُعاګانې ورته غوښتې لهٔ خدائ
نن پهٔ ما تېر شو لهٔ سلام او لهٔ دُعا نه بغیر

PUKHTO.NET

چا وې چې مينه نهٔ پېښېږي، پهٔ موږ څوک خبر شول
هلته لهٔ تا نه سپوا ، دلته کېږي لهٔ ما نه بغښ

زړهٔ به يې غواړي خو بهٔ خولهٔ ګُل مخي "هو" نهٔ کوي
مړوند يې نيسه کله لهٔ رضا نه بخښ

تهٔ مړور خو شه ، لهٔ "درد" نه سترګې واخوړوه
چا وې چې نشته دي مړکونه لهٔ قضا نه بخښ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## ساقي !!!

ساقي ګوره ساقي! تهٔ خو مې زړهٔ ښاد که
هر سړي يمه هېر کړے تهٔ مې ياد که
څو لمحو ته ، فقط څو لمحو د پاره
ساقي ما د زمانې لهٔ غم آزاد که

## غزل

ګلان ګل ته ، خپل ګرېوان ته ازغي پېږم
زهٔ تنها واړه چمن له مالي پېږم

کبرجن سمې ، یو شکلې جانان ګورم
د ژوند سپورو ورځو شپو ته شوخي پېږم

کځ فطرت سره ښکېره کول غواړم
خدائې خبر چې ځان ته غم که خوشي پېږم

د وطن په دشتو ، غرونو کښې یې نولم
زهٔ سپېلو نه د رنګونو وَرېي پېږم

بې ضمیره سوداګر کلي ته راغې
راته وائي زهٔ په بیه سرې پېږم

د تربور په سر قدم بږدوم پښتون یم
لیونې یم خپلوان پلورم ، پردي پېږم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ښاپېرۍ د ازادۍ په جاره وايي
روغ سړي پړې ورکوم لېونې ېږم

سوچه تکي د پښتو لټوم "درده"
د ادب د ناوې هار ته غمې پېيوم

# ګناهګار

په ځوانۍ کې ځان له مې توبه ګار کړ
خپل شباب مې ګوره څه رنګه داغدار کړ
باوجود ستا د رحمت مې توبه وکړه
پاکه ربه! ځان مې خپله ګناهګار کړ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

شکر کړه زړګيه که اقرار يې راته ونهٔ کړو
کړې دې بهانې خو چې انکار يې راته ونهٔ کړو

ماکه د ښو عشق ته ټول عُمر نيولے وُ
زهٔ د زړهٔ سمه چې ازار يې راته ونهٔ کړو

هجر کښې لهٔ ژوند نه ياره مرګ راته مشکل نهٔ وُ
بيا به دې وئيل چې انتظار يې راته ونهٔ کړو

نيت د ساقي نهٔ وُ خو نوَرِش يې لهٔ ځان لرې کړهٔ
ست يې راته وکړو خو ټکوار يې راته ونهٔ کړو

څومره اعتماد يې ورته ګوره بهٔ خپل حُسن وُ
دومره عُمر تېر شو او سِنګار يې راته ونهٔ کړو

مينه کښې لهٔ ما نه زياته هغه بېقراره وه
دا به يې حيا وه چې اظهار يې راته ونهٔ کړو

نن يې د راتلو انتظار "درده" پهٔ رښتيا کوه
نن راته مُسکې شوه که اقرار يې راته ونهٔ کړو

ځان سره دار ته ځو ما هم نۀ خېژول ملګري
ځو دومره ده چې تماشې ته به راتلل ملګري

منم چې لاره د وفا ډېره ازغنه لار ده
بيا دومره زر به لۀ ما نۀ واپس کېدل ملګري

بېګا مې خامخا لۀ سترګو نه چا خوب وړے وُ
بېګا مې واړه شپه په زړۀ راوړېدل ملګري

ما به په کاڼو لۀ شا ولي، ما دا کله منل
نن مې په خپلو ګنهګارو ولېدل ملګري

خلک حېران دي چې لۀ کاڼو نه چينې اووتې
زۀ يې چې شکو ته سپارلم، ژړېدل ملګري

واړه د حق د لار ملګري يُو، نور فرق مو نشته
څوک دي په لار کښې، څوک تر دار ورسېدل ملګري

زۀ چې مقتل ته رسېدم "درده" تنها پاتې ووم
په هر قدم رانه په شا پاتې کېدل ملګري

انګي يې داسې سره کړل د حوالې رنګ
لکه خوړ شي په ګلونو د سپرلي رنګ

که اقرار د محبت نه دے نور څه دے
چې پېدا مو شو ترمينځ د بې رخي رنګ

ولې؟ بيا زما پېغور درته چا درکړ
دا دې ولې په څه داسې څې راځي رنګ

سپين ګلاب وُ تا چې شونډو ته نژدې که
ورته ګوره چې يې واخيست ارغواني رنګ

که غزل دے که ټپه ده تر ښه ځار شم
چې پرې شوخ دے د پښتو د شاعرۍ رنګ

ستا رخسار ته د سرخي څه ضرورت دے
د ګلاب په پاڼو ښوک نه خېژوي رنګ

د ظالم د مرګ آوان چې "درده" خور شي
په ماتم باندې غالب شي د خوشي رنګ

PUKHTO.NET

ما نه دې پاڼې وې د ګلو د غُنچو ملګيرې
څوک خو دې وې چې کوې باغ کښې د ازغو ملګيرې

ما دې ليدلې په يو وخت دوه جنازې پورته شي
تا به ليدلې وې کله نه وې د دوه زړو ملګيرې

کوږ دې سنبال که ګُلالۍ، سنګر ته مه راووځه
تا لره دومره قدر بس دے د زلمو ملګيرې

ته د موسم غونډې بدلېږې د وختونو سره
ساده زړګے مې لا تا غواړي د کالو ملګيرې

اوس مې که دار ته خېژوې که مې زندان ته سپارې
ما نه پوره نه ده چې وکړم د تيارو ملګيرې

زه سترګه ور يمه، شاعر يمه شعرونه لرمه
يه "درده"! زه به څنګه وکړم د ړندو ملګيرې

وګړم چې ستا لهٔ زړهٔ نه وګړم لهٔ جهانه وګړم
ځکه چې څوبيکه لهٔ درد وځي زهٔ لهٔ ځانه وګړم

اجل دې راشي زهٔ اجل ته حادثه نهٔ وايم
حادثه دا ده چې لهٔ خياله دې جانانه وګړم

زهٔ دې ارمان يم ، ما د زړهٔ لهٔ کور وتل نهٔ دي زده
زهٔ اوښکه نهٔ يم چې به دومره په اسانه وګړم

زما ايمان دے چې مذهب د محبت نامه ده
زهٔ چې انکار لهٔ محبت کړم لهٔ ايمانه وګړم

ګرانه ده زهٔ چې په معيار د عشق پوره پرېوځم
ګرانه ده زهٔ چې لهٔ خپل ذات نه لهٔ خپل ځانه وګړم

ماښام لهٔ ځان سره يو پند غمونه کور ته راوړم
او چې سحر لهٔ کوره وګړم پرېشانه وګړم

چې په خلوګ کنجه دُنيا کښې دې زهٔ "درد" نهٔ وينم
اوس به په تا پسې جنت ته زهٔ "احسانه" وګړم *



* د درد صيب ايکې يو ځوانيمرګ زوئ .

دوکې خو داسې نهٔ وې، بهانې خو داسې نهٔ وې
یارانو په دُنیا کښې یارانې خو داسې نهٔ وې

دا زهٔ هغه زهٔ نهٔ یم کهٔ نا ستا نظر بدل شو
بې کیفه ستا د سترګو پیمانې خو داسې نهٔ وې

خوندونه جوړې واړه د ځوانۍ سره رخصت شول
سپړلیه ستا رنګینې زمانې خو داسې نهٔ وې

نهٔ کړنګ د پیمانو شته نهٔ هاهُو د میخوارانو
ساقي لهٔ تا نه ځارشم میخانې خو داسې نهٔ وې

د مینې ابتداء لهٔ انتها نه ځُکه ښه ده
فسونه کهٔ دغه وو، وسوسې خو داسې نهٔ وې

دا ولې پهٔ هر ګُټ کښې زندانې غوندې فضا ده
اے "درده" د وطن لارې کوڅې خو داسې نهٔ وې

## غزل

نهٔ مې د رقيب نهٔ د ازغي خبره کړې ده
يا مې د ګلاب يا د لالي خبره کړې ده

خلک داسې خلکو ته چې ولې غداران وائي
چا چې د خپل قام د ازادۍ خبره کړې ده

سل دانشوران قربان لهٔ داسې ليونۍ نه شه
چا چې پهٔ هر حال کښې د رښتيا خبره کړې ده

نن مې پهٔ غزل کښې چې تلخې غوندې راغلې ده
دا مې د خپل چم د ژوندۍ خبره کړې ده

ما د زړهٔ پهٔ پاڼه کهٔ ستا نوم ګله! ليکلے دے
دا مې کومه داسې د غلطۍ خبره کړې ده

زهٔ به د جوګۍ د محل فاصله ختمه کړم
ستا لهٔ سپينې خولې نه يوهٔ راوړې خبره کړې ده

کله چې پهٔ خولو د مصلحت مهر ونه ولګي
داسې وخت کښې "درده" شاعرۍ خبره کړې ده

د ستړګو جنګ ؤ سلامت اووَتې
زړګيه خوږه سلامت اووَتې

د محبت اعجاز مې او کړه نه
چې د نفرت له اذيت اووَتې

چې د يزيد په سر يې تاج وليده
چې له کور د شهادت اووَتې

زما وطنه د سپړلو وطن يې
کړه له چکر د سياست اووَتې

د حوا لور نه بل جهان لټوې
څه په اسانه له جنت اووَتې

په يوه خندا ورته له سره تېر شوې
"درده" هغه ساده مروت اووَتې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د تا په تلو ماندې دا چا وکړه آزار کلي ته
چې رابشکاره نه شو بیا تمول عُمر بهار کلي ته

ستا له محفل نه مې زړه دغسې مایوسه راوړو
لکه مایوسه چې څوک راوړي خپل بیمار کلي ته

د شوګیرو شپه راکوزېږي بیا د هجر ښار ته
نړکیه څه چې څو په وخت د انتظار کلي ته

له کلي هره لار چې ووځي ښخه ښار ته رسي
مګر له ښاره بېرته نه راځي یوه لار کلي ته

کلي نه سل کسان که ورشي څو تمول ښار ښکلې کړي
کلی برباد کړي چې یوکس راشي له ښاره کلي ته

هسې څو نه ده معطره بیا هوا د کلي
"درده" راغلې به ضرور وي زما یار کلي ته

زهٔ کهٔ ویښ یم کهٔ اوده یم، د ښکلا خوبونه وینم
چې مجنون ورپسې نهٔ شم، د لیلیٰ خوبونه وینم

"زهٔ او تهٔ" به دواړه مړهٔ شو، کهٔ تعبیر ئې اپوټه شو
تهٔ زما خوبونه وینې، زهٔ د تا خوبونه وینم

راشه ستړګو ته مې ګېر شه، چې پېغله درښکاره شي
څوک مې اوسي په لیمو کښې، زهٔ د چا خوبونه وینم

لاشعور کښې مې غورځي، لا تر اوسه هغه ستړګې
هره شپه چې د ختن او د ختا خوبونه وینم

د ماحول خبره نهٔ ده، زما ذهن ښایسته دے
زهٔ هم اوس ستاسو چم کښې، د ښکلا خوبونه وینم

د نیارې د کلي خلک، لهٔ ما "درد" څکه خفه دي
چې زهٔ ولې د سحر او د رڼا خوبونه وینم

PUKHTO.NET

غم چې د هیڅ شي نهٔ کړي هغوی خوندونه واخیستل
ژوند نه خو والله چې لبونو خوندونه واخیستل

زهٔ درته ګلرُخه! داسې څېر کله کتلے شم
ستا لهٔ ښکلي مخ څخه اُښو خوندونه واخیستل

دا چې پهٔ چمن کښې پاس پهٔ څانګه بېقراره دې
ښکارې چې ګلونو د ګمڅو خوندونه واخیستل

تا ته څهٔ تکلیف دے؟ اے واعظه! کهٔ زهٔ وخاندم
کوم اُسمان به پرېوزي کهٔ مې څو خوندونه واخیستل

ګل کهٔ خندېدلو خو د دوه ورځو ژوندون یې وُ
باغ او لهٔ بهار نه خو ازغو خوندونه واخیستل

زهٔ هم "درده" ښکلو د دُنیا لهٔ کار ایستلے ووم
ما یُې هم د شونډو لهٔ سرو خوندونه واخیستل

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## غزل

چې د بل سترګې په دلبر پرېوځي
دلته مې مالګې په پرهر پرېوځي

ذرې ذرې دې شوکوم زړګیه
ته چې د ښکلي لهٔ نظر پرېوځې

اې د حیا، اې د پښتو لوپټې!
✱ "پهٔ اوږه تم شه کهٔ لهٔ سر پرېوځې"

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې د دیدن ډالۍ دې راوړه ماته
اختره څومره بختور پرېوځې

تا چې پهٔ خپلې لوپټې وچې کړې
اوښکې پهٔ بیا د ګوهر پرېوځې

دا بېخودي کهٔ هوښیاري ده "درده"
چې پرېوځي د یار پهٔ در پرېوځي

مینه څهٔ ده؟ کمېدل دي
کمېدل دي، ژړېدل دي

د وفا طلب لهٔ بشکلو
پهٔ سُراب پسې وتل دي

قیامت چې ورته وائئ
لهٔ یارانو بېلېدل دي

چا سکون لیدلے نهٔ دے
لهٔ یو بل نه اوربدل دي

زهٔ پښتو درسره پالم
ستا خویونه د مغل دي

بې غرض ملګري نشته
د غرض ملګري سل دي

لۀ بل چا خوَشي مۀ غواړه
زړۀ پۀ خپله ښۀ کول دي

لۀ ازغيو نه ګمان ژغوري
پۀ طلب کښې چې د ګل دي

ناممکن چې راته ښکاري
د يار خيال لۀ زړۀ ايستل دي

د شاعر پۀ برخه هم جوړ!
لکه شمع سوزيدل دي

"درد" پۀ کاڼو باندې ولې
پرستار يې د غزل دي

د ژوند تیارې سره بلد دے رڼا هم غواړي
فقط د شپې تېروول نهٔ دي ، سبا هم غواړي

د دیدن تنده مې سها شي چې پیغام دې راشي
زړهٔ مې قاصد ته هوسېږي خو تا هم غواړي

لیلیٰ ته وایو چې د نوې دور مجنون بدل دے
تا نه ځارېږي خو لهٔ تا نه وفا هم غواړي

سترګې او زلفې ، اننګي او شونډې حُسن نهٔ وي
څهٔ نزاکت ، څهٔ بې رُخي ، څهٔ ادا هم غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ادب نیټا

چې د زړهٔ حال وئیلے نهٔ شو بیا د ژوند څهٔ مزه
په شونډو ساه اخیستل نهٔ دي صدا هم غواړي

د هجر سختې تېروي ستا د وِصال په طمع
څوک دې چې غم ته غاړه وږدي ، خندا هم غواړي

پښتون فطرت مې کله اوړ کله شبنم شي "درده"
شوخي هم غواړي لهٔ خوُبانو ، حیا هم غواړي

ستا ښکلي ځوانۍ ته سپېلنی شوله
خپه دے که ایرې زما ځواني شوله

هر سړے دعوی د محبت کوي
څومره د غمونو ارزاني شوله

تا چې له حیا پکښې ځغ ونښتو
سپینه لوښته دې ارغواني شوله

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

حُسن بې وفا وُ بې وفا شولو
مینه ارماني وه ارماني شوله

"درده" چې نن ولې په لیدو د یار
زیاته مې د زړهٔ پرېشاني شوله

٥

د زړه ټکور ستا په تصویر لا په شعرونو کوو
بل کوم علاج به راته وایه د زخمونو کوو

چېرې مو لو نه ټکوله دروازه د جانان
بیا به مو کیله ولې د ځکو دېوالونو کوو

یوه مسئله مو د جانان یا د ځان حل نه کړله
دا محبت کوو که ظلم په ځانونو کوو

چې لږ د کار وي هغه سر تر داره ورسوو
موږ درانه خلک یو، موږ قدر د سرونو کوو

موږ د وطن په مستقبل ځکه یقین نه راځي
چې د حالاتو اندازه له اخبارونو کوو

موږ سره څه هم په رښتیا پښتو پاللې نه ده
موږه کرم نه یو که اوس شکوه په نیتونو کوو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

موږ د ښایست د شهزاده سره وعده کړې ده
چې عن تن مړکه به روزنه د ګلونو کوو

تن څو به نهٔ ماتوو لاس د تبرزنو ، "درده"
تن څو به ویښ په ځپه خولهٔ د چنارونو کوو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

**غوښتنه**

اے د خرد نه ډکې، پاکې زمکې!!
کله قدیس کله سلام زیږوې
ستا د غیرت ارخ به چې کله ویښ
تهٔ به چې کله لا صدام زیږوې

يه ښکليه! غزل دې کړم، ټپه دې کړم
درد دې کړم، شاعر دې کړم، نغمه دې کړم

وخندېدې، وشرمېدې، پټ شوې
بل دې کړم، لوګے دې کړم، لمبه دې کړم

وايې راته دا «احسان دې شته په ما
ښکلي خو زړهٔ ومه، خو خوږه دې کړم؟»

حُسن وُ، شوخي وه، اداګانې وې
زړهٔ مې ټکه درکړه چې جرګه دې کړم

موږ وو دوه ټکړې د يو تصوير ګُله!
ښه وشوه چې خپل دې کړم، پوره دې کړم

تا ږدول خالونه په غونډۍ که زنه
ما دې تماشه کړه، تماشه دې کړم

وايې راته "درده" د وصال په شپه
"پوهه دې کړم په خوند د ژوند مړه دې کړم"

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ړوند چې وي په سترګو، رڼا نه غواړي
داسې ګڼې څوک دے چې تا نه غواړي

څوک چې ستا رضا خپله رضا ګڼي
صبر وظيفه کړي دعا نه غواړي

ښکلي په مثال د ماشومانو دي
نن به يې زړه غواړي سبا نه غواړي

نه دې ګورې، ښکلو ته دې نه ګورې
ځان ته که پخپله بلا نه غواړي

مانته د ښځو له شا راګوره
زړه مې درته عامه ادا نه غواړي

ننۍ دې راته خاندې د ديدن په وخت
"درد" له ښکلو نوره وفا نه غواړي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نيټ

## غزل

ښکلي هر وخت خپلو غمزو ته ګوري
دومره فارغ نهٔ وي چې زړو ته ګوري

موږ عاشقان د يار خاطر ته ګورو
خودپرست خلک دې شملو ته ګوري

شيشه چې نهٔ ماتوي څهٔ به کوي
کاږهٔ مخونه چې شيشو ته ګوري

لهٔ هر يو لوري نه مايوسه خلک
پهٔ ډېره طمع لېونو ته ګوري

محتسب ناست وي پهٔ جمات کښې مګر
د ميخانې بند دروازو ته ګوري

غلي ضرور يو لاجوابه نهٔ يُو
څښې کسان خپلې پښتو ته ګوري

ستا د سپرلي وعده بې هېره نهٔ ده
«درد» ګل وريني ورځو شپو ته ګوري

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د وطن غنه غنه ستایم ، نو باغي په څه یم
په دې چمن باندې شیدا یم ، نو باغي په څه یم

د وطن هر زلمي ته زه ښه مستقبل لټوم
بچي بچي ته په دعا یم ، نو باغي په څه یم

ولې د خاورې سره مینه کول جرم دے څه؟
زه چې مینن په پښتونخواه یم ، نو باغي په څه یم

ما که ذهنونه منور کړل خو شاعر یمه زه
زه علامت که د رڼا یم ، نو باغي په څه یم

ما دې وطن کښې همیشه د زیان سودا کړې ده
نه سوداګر یم نه بنیا یم ، نو باغي په څه یم

خلک زما سره د نوې دور خوبونه ویني
چې د جمهور د زړه صدا یم ، نو باغي په څه یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا څهٔ الزام دے؟چې زهٔ ویښ د چنارونو کوم
کهٔ لوئ الله ته پهٔ ژړا یم، نو باغي پهٔ څهٔ یم

ما د نفرت سره همیش "درده" نفرت کړے دے
د محبت سندرې وایم، نو باغي پهٔ څهٔ یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## کردار

کهٔ د صبر تر منزل رسیدل غواړې
لهٔ ازمېښت او ابتلا نه به تېرېږې
د حسینؓ اوچت مقام دې کهٔ مطلوب وي
لهٔ منزل د کربلا نه به تېرېږې

تهٔ ماته په خندا بې او پسخېږي راته بل څوک
زهٔ ستا په تماشه یم حېرانېږي راته بل څوک

خامي زما د عشق ده که خامي د تا د حُسن
زهٔ تا را یادَومه او یادېږي راته بل څوک

اے وخته دا دې څرنګه بې وخته غوندې لُوټ کړم
ولاړ یم اَسي ته زهٔ، ښکارېږي راته بل څوک

شاید چې په دُنیا کښې هر سړے په زړهٔ کښې غل دے
خطاب مې د ے بل چاته او قهرېږي راته بل څوک

اے عشقه! دا دې څرنګه کړاوٴ ته مخامخ کړم
تېرېږي په ما "درد" باندې، دردېږي راته بل څوک

# غزل

ته بدن مې داسې وچ شه لکه خټې
يو ساعت مې که لږ زړه نه بې وتلې

په ما خوږ له د ښو خښي راکاږې
زه دې ستړګو لا پټوا يمه وژلې

ما به ولې ستا د وصل دُعا غوښته
ستا تصوير که ستا په شان ته غږېدلې

داسې کس به پيدا نه کړې په دُنيا کښې
چې د ښکلو د لاس نه وي دردېدلې

چې تر څو زما ليلیٰ پکښې ميشته ده
"ميناخيل" هم راته خوږ دے لکه کلې

چې زما شعرونه اورې او "آه" نه کړې
دا سړے به په زړه نه وي چا داغلې

"درد" به ولې ستړې اسوېلې کړل
که د هجر اور په اوښکو مړ کيدلې

هر سړے په ځان دے د جانان خوبونه نه ويني
دې ګرانه ګرانۍ کښې څوک د ګران خوبونه نه ويني

خلک د خوبونو له تعبيره داسې مايوسه شول
لوږے خو بيا هم لوږے دي، ماشومان خوبونه نه ويني

خولې به راته وتړي په زور، دا خو ممکنه ده
دا ممکنه نه ده چې انسان خوبونه نه ويني

PUKHTO.NET

داسې شنه پڼې يې په شنه فصل شنه آسمان وکړه
اوس د کلي خلک د باران خوبونه نه ويني

نوي واکمن راغلل، نوې نوې تجربې کوي
وايي چې "له موږ به څوک بل شان خوبونه نه ويني"

څوک به د اقبال نه پسته فکر د ملت کوي
نن سبا چې ولې شاعران خوبونه نه ويني

واړه شپه مې خوب کښې بلاګانې وې روې "درده"
څوک به دې ماحول کښې پرېشان خوبونه نه ويني

وعدې که د ګلرُخي تر وفا ورسېدې
د هجر سپېرې شپې به تر سبا ورسېدې

حالات د دوه زړونو سره داسې ټوکه وکړه
دا زهٔ د چا نصیب شوم ته د چا ورسېدې؟

پېړه که د ازغیو ده چاپېره لهٔ هر ګل نه
وږمې د ګلو بیا هم تر هوا ورسېدې

د وصل تر منزل پورې لا ډېرې مرحلې دي
ایله د اشنا شونډې تر خندا ورسېدې

دا کاڼي زړونه ضروري نهٔ ده چې موم شي
مظلومه که دې چغې تر دُنیا ورسېدې

زخمي زخمي جذبې به د ربنکاره شي پهٔ سیلو کښې
اے "درده" پهٔ مفهوم که د خندا ورسېدې



PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

ستا لهٔ ستم دکه ادا پېژنم
زهٔ دې هر انداز د جفا پېژنم

اوس به تندرونه پهٔ محل اورې
زهٔ د موسمونو ادا پېژنم

لا مې محبت کښې خلل پاتې دے
لا دې زهٔ د ځان نه جُدا پېژنم

PUKHTO.NET
پښتو کتاب ټیپ

وژاړم چې تا پهٔ خندا ووینم
ګله! زهٔ انجام د خندا پېژنم

چېرې بې غرض بښکلې نهٔ کوې
زهٔ د زرداراتو دُنیا پېژنم

قدر زهٔ د هر ښکلي کومه خو
یو سرے لهٔ نورو جلا پېژنم

ځار لهٔ دې ادا چې راته وئې وېل
"تهٔ خو به "درد" نهٔ یې زهٔ تا پېژنم"

عام کول غواړو رڼا، زه او علیل
زېرې د نوي سبا، زه او علیل

زړونو کښې گرد د کدورت نه لرو
هر څه کښې وینو ښکلا، زه او علیل

زموږ پیغام د محبت پیغام دے
مسلک د دواړو "وفا" زه او علیل

د هر یو وس سره په درد کښې شریک
د هر مجبور همنوا، زه او علیل

په هر یو کار کښې گټه نه لټوو
غونډې دُنیا نه جُدا زه او علیل

ساده مروت یُو، مُروّت پېژنو
متنفر له رِیا، زه او علیل

په یوه الله مو "درده" پوخ ایمان دے
همه یقین او رِجا، زه او علیل

PUKHTO.NET

بیا مې لاړه ستا کوڅې ته ونیوله
بڼه جولۍ مې کنډوالې ته ونیوله

دا دُنیا د اوسېدو قابله نهٔ ده
هسې ښه مې تماشې ته ونیوله

ما وې کور د عافیّت غواړم دُنیا کښې
مېخون کوټه مېخانې ته ونیوله

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د چمن واړه رنګونه یې پېکه کړل
سرهٔ غُنچه یې سپینې خولې ته ونیوله

نن یې ما چې د سِنګار تعریف ونهٔ کړو
غټه تیږه یې شیشې ته ونیوله

"درده" زړهٔ مې کبرجن جانان ته ورکړو
اومه غوښه مې لمبې ته ونیوله

موښ دې کۀ وانځلو، واړۀ دې کړلو
جانانه کانړي وو رانجۀ دې کړلو

عشقه پۀ خپلو وینو سرۀ دې کړلو
ځې د خوبانو د کاتۀ دې کړلو

دې رُخې پۀ اور کښې وریت ولاړ وو
تاچې راوکتل ساړۀ دې کړلو

ستا پۀ ستم چې خبرېدو، خبرېدو
وخته پرې تېر دې کړو، زاړۀ دې کړلو

څۀ پۀ ځنې دې لۀ غم وسلتلو
ځان رانه هېر شو چې پۀ ژړۀ دې کړلو

د محبت معیار دې نور اوچت کړو
څار دې شم "درده" چې درانۀ دې کړلو

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

د آزادۍ د پړاوونو ډیوې بلې لره
په سر د دار هم د سرونو ډیوې بلې لره

چې لار خطا نه کړي کاروان د حُریّت دلارې
په هر قدم ورته د زړونو ډیوې بلې لره

چې د ظلمونو د تورتم نه شکست ونه منې
که نور څه نه وي د زخمونو ډیوې بلې لره

اوښکې نه ستورې، له زخمونو نه سپوږمۍ جوړه کړه
رڼا چې عام شي، د داغونو ډیوې بلې لره

په تورو شپو کښې د سحر په یقین ژوند تېروه
زړګیه تل د اُمیدونو ډیوې بلې لره

ازغي ته وایه چې ګلچین ته هره لار ونیسي
مالي ته وایه د ګلونو ډیوې بلې لره

چې د "شېرشاه" غونډې څوک بل پښتون لوېږي پکښې
خدایا! د دغسې کورونو ډېوې بلې لره

د چا جابر تر څنګه "درده" چې څوک غږ نشي کړې
په داسې وخت کښې د شعرونو ډېوې بلې لره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## ازمېښت

چاته چې څومره لوړ مقام ورکوې
هومره ازمېښت ورته سنګین جوړ کړې
چاته مېدان د کربلا ګرم کړې
چاته په کور کښې فلسطین جوړ کړې

نهٔ ده چې زهٔ کښې جنت نهٔ منم
بغير لهٔ تا به وې راحت، نهٔ منم

هره خبره دې په گل بدله
خو محبت کښې رقابت نهٔ منم

زړکیه یار دې مرور کړو رانه
داسې پښتو، داسې غیرت نهٔ منم

ناصحه! تهٔ خو په زړهٔ داسې سخت يې
تا به وې کړے محبت، نهٔ منم

څخه چې پورته کړم د ظلم خلاف
دا ته دې وايې بغاوت، نهٔ منم

وايې لهٔ "درد" مې زړهٔ په زور وړے دے
د چا احسان، د چا مِنت نهٔ منم

د هجران سپېره وختونه دي او زۀ يم
ژوبل ژوبل اُمېدونه دي او زۀ يم

څۀ بې درده ورځو شپو ته حاضر يم
د يادونو بارانونه دي او زۀ يم

ستا تصوير مې مخ ته پروت دے ورته ژاړم
څۀ خوارۀ خوارۀ دردونه دي او زۀ يم

PUKHTOON.NET
پښتو ډاټ نېټ

د راتلو نېټه دې راغله ته رانۀغلې
مايوسي ده، حسرتونه دي او زۀ يم

محبت کۀ جرم نۀ وي نو بيا ولې
لۀ هر خوا نه تُهمتونه دي او زۀ يم

کۀ پوره شي "درده" کوم کوم به پوره شي
پۀ زړګونو ارمانونه دي او زۀ يم

کشمیر، کابل که بوسنیا ده، حسینؓ
ستړګې په لار درته دُنیا ده، حسینؓ

جبر دے، زور دے، تشدّد دے یزید
مینه ده، حُسن دے، وفا ده حُسینؓ

یو خوا تمام پرې شجاعت ملګرے
بل خوا د صبر انتها ده حُسینؓ

ژبه ده، تُوره ده، حیا ده، ننګ دے
خو د پښتو یوه معنا ده حُسینؓ

یزید حقونه د جمهور نه مني
او د جمهور د زړهٔ صدا ده حُسینؓ

لبونې شوې دي هوا قتلوي
د پسرلي تازه هوا ده حُسینؓ

چې د امر قصیدې نه لیکي "درد"
دا حوصله تا ورعطا ده حُسینؓ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د سپرلي غوندې ښېرېږي پۀ شتاب
يو د وصل خوږ موسم او بل شباب

هغه سترګې يادوم پۀ لاره زانګم
زۀ به ولې احسان اخلم د شراب

لۀ ناصح نه رقيب سل ځله بِهتر دے
چې تائيد کوي زما د انتخاب

نۀ به لاړه شي شوخي لۀ ګُلرُخانو
نۀ به کم شي د مينو اضطراب

چې جانان ګوره تنها درنه لاړ نۀ شي
زړۀ او سترګې ورسره کړه همرِکاب

چې زړېږي لا مستي اخلي ځوانېږي
محبت د "درد" غزل دے کۀ شراب

وائې شب پرست سحر به نۀ غواړي
خلک به پانده کړي لمر به نۀ غواړي

سر ته کۀ څوک غواړي سر به تيته لري
چيک کۀ لۀ بل سر شي سر به نۀ غواړي

دلته پۀ الوټ پابندي نشته ده
هو! څو دومره ده وزر به نۀ غواړي

دا وړه خبره پۀ زړۀ ولیکه
ځان ته کۀ څوک غواړي شر به نۀ غواړي

بُوټي به دې لۀ سترګو ته ونۀ کاږو
موږ يې فرښتې، بشر به نۀ غواړي

واړه اٰئينې شولې ړندې "درده"
سترګې شوې وه نظر به نۀ غواړي

سم ریزه ریزه شومه ، سم پریوتم
زهٔ چې له نظر د صنم پریوتم

ژوند دغه سزا د نزاکت راکړه
ګل ووم د ازغیو په چم پریوتم

زهٔ دې لال ګوهر یمه خوځهٔ حاصل
ستا په تول جانانه چې کم پریوتم

وختم اسمان ته کهٔ د بل په زور
خپلو پښو چې نهٔ کړمه تم ، پریوتم

ما چې د لار هره قدم سر کړله
زهٔ له اس سره د قدم پریوتم

غېږ د لحد ماته غېږ د مور شوه "درد"
زهٔ یکښې له ستړې بې دم پریوتم

څنګه پیکه دے بې لۀ تانه کۀ کودر دے هغه
څوک به دا وائي چې پروون ؤ، دا منظر دے هغه

د ستم داد غواړي او زۀ یم چې فریاد نۀ کوم
پۀ دا وړه خبره ما نه مرور دے هغه

خلک به وئي پرستش د مال و زر نۀ کوي
چې دوه پیسې لري پۀ جیب کښې معتبر دے هغه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د ځان دُښمن دے، بنائيُسټ وینې مصلحت نۀ وینې
زړۀ سنۀ خبر دے چې مغرور دے، ستمګر دے هغه

زړۀ مې داغي او ماته حق د ګیلې نۀ راکوي
خپلې او بۀ پۀ لوړه بیائي، زورور دے هغه

پۀ کومه لار کښې مې د ځان سیورے چې ګوښې پرېږدے
پۀ هغه لار کښې مې ملګرو همسفر دے هغه

درد پۀ ما ګران دے خو لۀ وصل نې دا رېږمه زۀ
زۀ د شبنم پسته قطره یمه او لمر دے هغه

راز د خپل تخلیق راته عیان کړو محبت
ژوند زما فاني ؤ ، جاویدان کړو محبت

چتر چتر زلفو ته دمه شومه اوده شوم
ما د وخت غرمو ته سائبان کړو محبت

دې د پاسه بله قُرباني به کومه غواړې
ستا رضا دپاره مې قُربان کړو محبت

PUKHTO.NET

تا چې راته هر څوا ډیوې بلې کړې د حُسن
ما هم درته زړهٔ کړو ، واړه ځان کړو محبت

تا هم هر یو درد د محبت په نامهٔ راکړو
ما هم هر یو درد له درمان کړو محبت

اوس مې ومنله چې عشق لویه مرتبه ده
"درد" غوندې شاعر چې بې زبان کړو محبت

چمن دې ګوټ ګوټ کړو په کوم لوری اووَتې
لا خو ګلونه وو سمسوری اووَتې

جرأت دې وکړو چې یو زه دې خپل کړم
ګله! د ډېرو لهٔ پیغور اووَتې

زړو خوندونه د هوټل والغیستل
لهٔ کلیو لارې په هر لوری اووَتې

د کونډې لونه مزدورۍ ته لاړې
کهٔ جنازې د چا لهٔ کور اووَتې

احسان دې نهٔ منم خپل وس تمام کړه
وو زه لهٔ زړهٔ مې کهٔ په زور اووَتې

په هر قدم چې "درده" شاته ګورې
لهٔ "مستي خېل" کهٔ لهٔ لاهور اووَتې

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

چې په خاطر د خلکو بار نه یمه
زه شرمسار په خپل کردار نه یمه

د پښې مینه مې تر پښو لاندې کړه
ځکه بې پته، بې وقار نه یمه

څوک به ولې په خپل ژوند نه کوم
زه چې د چا د سترګو خار نه یمه

زما په کور کښې دوه ولیان اوسېدل
ثبوت یې زه یم چې بې لار نه یمه

دا سلیقه مې له غزل نه زده کړه
حق ته حق وایم او په دار نه یمه

تا یې پیوستنه رانه وکړه "درده"
ولې زه ګل نه یم، بې خار نه یمه؟

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

ذره کښې د میټې سمندر ګرځوو
خود به پهٔ ستړګو کښې ګوهر ګرځوو

رفوګران یُو د بل زخم ګنډوو
خپله سینه پرهر پرهر ګرځوو

د بل دیاره چمنونه کړو
خپله هغسې تش ډګر ګرځوو

سپرلي زموږ پهٔ خواږ شا کښې اوسي
ځان سره زړے د سحر ګرځوو

هغه به خپله پهٔ موږ څومره ګران وي
د چا غمونه چې پهٔ سر ګرځوو

د هر خبر مبتدا موږه ګرځو
ځان کهٔ لهٔ هر څهٔ بې خبر ګرځوو

خلکو ته «درده» رڼاګانې وېشو
موږ پهٔ سینې دننه لمر ګرځوو

سر په اوږو بار دے خو څوک تږغ نه کړي
هر سړے وېزار دے خو څوک تږغ نه کړي

ظلم به نور زیات شي که چُپ پاتې شول
تږغ ورته پکار دے خو څوک تږغ نه کړي

سل اتیا کسان دي چې مزې کوي
نور اولس که خوار دے خو څوک تږغ نه کړي

څوک به راکوزېږي له اُسمان راته
خوشې انتظار دے خو څوک تږغ نه کړي

ښه ورته معلوم دے چې دُښمن دے څوک
بل نه دے زردار دے خو څوک تږغ نه کړي

وائي چې شاعر د اولس ژبه وي
"درد" دے بل افګار دے خو څوک تږغ نه کړي



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

خوښ یم هر څو کۀ لۀ جهان یم ګوښې
زۀ چې هدف ستا د مژګان یم ګوښې

مینه د ځان سره شریک نۀ منې
غواړم چې ستا د زړۀ ارمان یم ګوښې

رهبر دې ما دومره حقیر نۀ ګڼې
زۀ په خپل ذات کښې یو کاروان یم ګوښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د نفرتونو یو ځنګل دے او زۀ
د محبت په لار روان یم ګوښې

یو لۀ مقام د سرېتوب پېژنم
بل د خالق په فن تاوان یم ګوښې

تۀ خو به اوباسې لۀ زلفو ولونه
پاتې به زۀ څیرې ګرېوان یم ګوښې

هغه هم شپه لۀ سترګو ویښه باسي
ما وې کۀ "درده" پرېشان یم ګوښې

نهٔ بېخودي غواړم نهٔ جام اخلم
زهٔ لهٔ خپل زړهٔ نه انتقام اخلم

بیا هم یاران رانه خفه دي خلکه
زهٔ هر قدم څومره پهٔ پام اخلم

خلک چې تا ته بې وفا نهٔ وائي
زهٔ پهٔ خپل سر واړه الزام اخلم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پهٔ عشق مې وس نشته ارباب دې کړم
نهٔ درته ګورم نهٔ دې نام اخلم

ته چې راګورې نو زهٔ نهٔ درګورم
تا نه خوندونه ناتمام اخلم

رېباره څهٔ بهٔ وي؟ چې "درد" ته وایه
"نهٔ دې دُعا نهٔ دې سلام اخلم"

چې د حُسن په نظر کښې ذي وقار يُو
موږ که فخر په خپل عشق کوو حقدار يُو

سر مو ځِک وي له غروره ښکلي ښکارو
موږ که بند يُو په زندان کښې که په دار يُو

که ازغي يُو د ګلچين لاسونه نيسو
موږ چې ولې د مالي د سترګو خار يُو

موږ د عقل دعوی نه کړو ناصحه
شُکر شُکر چې په عشق کښې پُخته کار يُو

خپل غمونه مو که کم نه دي له چا نه
خو د بل په درد شريک يُو بيقرار يُو

محبت چې پکښې جرم نه وي خلکه
موږ د هغې زمانې په انتظار يُو

راسره څه تش يو زړهٔ دے لېکن "درده"
د کنعان د ټولو ښکلو خريدار يُو

خندہ پہ مزہ، څومره خندان تېر شو
ژوند چې د بنکلې پۀ ارمان تېر شو

پرون چې تا لۀ خپل محفل نه پټک کړو
نن هغه کس لۀ دې جهان تېر شو

دا هغه کس دے چې زۀ مرم ورپسې
دا چې لۀ مانه ګرېزان تېر شو

تا چې د خپلې زلفې سمې نۀ کړې
عمر مې ځکه پرېشان تېر شو

د هجر وخت د تېرېدو خو نۀ وُ
ستا پۀ وعدو ستا پۀ پېمان تېر شو

د "درد" پۀ مرګ باندې به ډېر ووائي
نن د مروتو غزلخوان تېر شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زړهٔ محبت کوي ګلونه کړي
عقل وسواس کوي غمونه کړي

راتلونکي نسل ته مرګونه کړي
دا خلک ولې نفرتونه کړي

تورو تیارو وخوړل هغه خلک
زموږ دپاره چې لمرونه کړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

چې په تعبیر یې اختیار نهٔ لرو
عبث مو زړونو کښې خوبونه کړي

په سرو سرو شونډو سره سُرخي لګوي
په سرو لمبو کښې سرهٔ ګلونه کړي

لهٔ حیا "زړه زرغونه" شي "درده"
زما په سترګو کښې رنګونه کړي

کوم یو کار د عشق مو سم دے خو کوو یې
کاروبار د دردوغم دے خو کوو یې

کوم محشر مو لۀ سر تېر نۀ شو پۀ عشق کښې
نور مو ختم د زړۀ زغم دے خو کوو یې

ښۀ پوهېږو چې یک طرفه محبت دے
د جانان مزاج برهم دے خو کوو یې

کۀ "پیاده" یې کړو راګخته نو "شاه" مات دے
د شطرنج مو دا عالم دے خو کوو یې

دا صِله د شاعرۍ زمانې راکړه
ګوتې پرې، مات مو قلم دے خو کوو یې

دا خو "درده" د "دمګرې" زړۀ ته ګورو
یې اشره هر یو "دم" دے خو کوو یې



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بغیر د ښکلو د چا راج نهٔ منم
زهٔ محبت منم خراج نهٔ منم

نهٔ مې ماضي نهٔ مې پښتو هېره ده
غلط قدرونه د سماج نهٔ منم

د نوي دور له تقاضو خبر یم
ځکه خو تخت نهٔ منم، تاج نهٔ منم

چې د اسلام د قدر نفي کوي
داسې دستور، داسې رواج نهٔ منم

ساده پښتون یمه خلوص پېژنم
د چا غرور، د چا مزاج نهٔ منم

نهٔ دهشتګر یم، نهٔ باغي یم "درده"
په خپله خاوره د بل راج نهٔ منم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# غزل

په نام او په نسب فخر کول هم ضروري وو
د ذات له تنګ حصار نه راوتل هم ضروري وو

د عشق اداب مې دا وو چې باڼه مې ورته ټيټه کړل
خو ستا انا د پاره درکتل هم ضروري وو

ځواني وه، لېونتوب و په قدم قدم خطا شوم
له شرمه په کفن کښې ځان نغښتل هم ضروري وو

جمات کښې له ناستې نه زه منکر نه يم واعظه
د ظلم ځنيوي ته ودرېدل هم ضروري وو

منم په چپه خوله کښې مصلحت دے، بهتري ده
چې شر رفع کېدو نو غږېدل هم ضروري وو

صدمه د ګل د تلو له قيامت نه کمه نه وه
دُنيا ته مخه "درده" خندېدل هم ضروري وو

سرچینه ده د تقوی زما په ذات کښې
خدائ دې مې نه کړي ضمير زما په ذات کښې

چې تر شونډو پورې راغے دی غزل شو
امانت وُ یو تحریر زما په ذات کښې

لا مې کړې اراده د ګناه نه وې
چې لګیا شي څوک په وین زما په ذات کښې

نه انا په دام کښې کیږي کمه نه نفس
زما زړهٔ دے زما پیر زما په ذات کښې

هره شپه رانه د ورځې حساب غواړي
یو انکیر دے بل منکیر زما په ذات کښې

چې نه تخت ته او نه تاج ته هوسیږم
"درده" اوسي یو فقیر زما په ذات کښې

داسې په مينه اول ګله ګبرجن غږېدو
دغه د ګل غوندې جانان ؤ خو ازغن غږېدو

د وصل شپه وه لهٔ حيا نه ئې خبرې نهٔ کړې
خو د لاسونو په حلقه کښې ئې بدن غږېدو

بېګا مې نيمه شپه سپوږمۍ سره ستا ذِکر کاوهٔ
سحر په موړ باندې د کلي هر يو تن غږېدو

دومره ډېر قدر زياتېدهٔ مې د جانان په زړهٔ کښې
زما خلاف چې ورته څومره ډېر دُښمن غږېدو

مُطرب د چا غزل چې وچېړو، جادو ئې وکړو
چرې لهٔ سترګو ورېدې خو کهٔ يو تن غږېدو

ګُل د ُو رېدو، خو د مالي کهٔ د خزان لهٔ ډاره
نهٔ هوا وکړه اشاره او نهٔ ګُلشن غږېدو

ځ دې جانان په داسې طرز انداز کښې ذِکر وکړو
قسم دے "درده" په ټا واړه انجمن غږېدو

## غزل — درد

مهٔ غواړه ګله! د خوښیانو، د غمونو حساب
یارې کښې نهٔ کیږي د ګوتو پهٔ سرونو حساب

څهٔ پهٔ مزه مزه مې څخ ته ائینه کښې کتل
د تندي ګونځو کړو رامخې ته د وختونو حساب

نهٔ د انسان پهٔ درد زهیر شوې نهٔ د قام پهٔ حالت
تهٔ به هم غواړې چې ستا سرشي پهٔ سرونو حساب

زما د نن ورځې ګناهونه د شمیرلو نهٔ دي
تهٔ رانه غواړې اے رحیمه! د عمرونو حساب

زهٔ به لهٔ هغ الله نه غواړم ستا د وصل موسم
د ګل پهٔ پاڼو چې لیکي د موسمونو حساب

خپلې ښکلې زباد وي پهٔ ما، زما ملګري
زهٔ به لهٔ چا سره کوم د پرهرونو حساب

اول دې مینه راکړه خدایه! بیا د ګل غوندې یار
"درد" به پهٔ څهٔ خلاصوي ستا د نعمتونو حساب

چې زړهٔ یې نهٔ وي کهٔ راد روې جانان، نهٔ دې راځي
پهٔ مادې بل وي خپل دے اور د هجران، نهٔ دې راځي

مینه لهٔ زړهٔ نه کېږي دا د زوړ خبره نهٔ ده
جبر دې نهٔ کوي پهٔ زړهٔ او پهٔ ځان، نهٔ دې راځي

موږ انتظار کړهٔ د اختر کاوهٔ خو هیله مو وه
چې دیدنونه یکېږي نهٔ شي ارزان، نهٔ دې راځي

جانان چې لاړو اوس دې سترګې اوښکې نهٔ ډوروي
پس وخت چې نهٔ وربږي داسې باران، نهٔ دې راځي

چې هره غنه د چمن لهٔ ګلو ونهٔ پېږي
سپېلي چې رانهٔ وړي پهٔ پښو ګلان، نهٔ دې راځي

د بې وسۍ احساس پهٔ اور کېښې مې دې نهٔ سوزوي
چې مدرګه ورسره وي رقیبان، نهٔ دې راځي

اوس چې پهٔ ژوند باندې مې نهٔ کوي پوښتنه "درده"
زما د مرګ چې کله واوري اعلان، نهٔ دې راځي



PUKHTO.NET

اوبدې شوې کۀ د ظلم سلسلې نو څۀ به کړو
اودې شوې کۀ د زړونو ولولې نو څۀ به کړو

زړګیه تۀ چې وصل کښې لا دومره بېقرار يې
کۀ راغلې پۀ رښتيا د هجر شپې نو څۀ به کړو

کوڅه ده کۀ بازار دے نن خمونه ترينه زېږي
کۀ بند شوې محتسبه! ميخانې نو څۀ به کړو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بې قدره زمانې! د شاعرانو قدر زده کړه
کۀ مړې شوې دا د فکر څراغونې نو څۀ به کړو

زړګیه! د جنون لۀ ملګرے نه چې وانۀ وړې
رښتيا شوې کۀ د عقل وسوسې نو څۀ به کړو

څه وشوه چې زۀ "درد" به دې د ظلم ذکر نۀ کړم
خو بيا هم کۀ خورې شوې کنګوسې نو څۀ به کړو

## غزل

متضاد غونډې تقدیس ېې راله راکړو
هم دولت او هم ضمیر ېې راله راکړو

خپله مینه ېې زما په زړهٔ پېرزو شوه
درد ېې راکړو کهٔ اکسیر ېې راله راکړو

کُشاده ېې راته زړونه کړل د ښکلو
لوئ بادشاه دے لوئ جاګیر ېې راله راکړو

بې نیازه خدائ لهٔ هر څهٔ بې نیاز کړم
ځنې زړهٔ د چا فقیر ېې راله راکړو

زما مرګ ته ېې مرګے چې زما مړګ کړو
د ژوند څومره ښهٔ تعبیر ېې راله راکړو

عجیبه توقه ېې "درده" په ما وکړه
جانان لاړو خو تصویر ېې راله راکړو



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

جانانه ما لهٔ نورو خلکو نه جلد وساته
درد راکوه خو زما درد هم لا دوا وساته

منم ستا سترګو سره شوخي اداګانې خوندکړي
زما د یاره بیا هم سترګو کښې حیا وساته

داسې به وګڼو چې وصل مو نصیب کښې نهٔ وُ
زهٔ به پښتو رسوم سرته، تهٔ آشنا وساته

انجام مې دا شو چې محروم لهٔ هر راحت نه یمه
ولې مې کړے وُ خواهش چې ما وَسا وساته

د لوېز پېغلې پهٔ سرو سترګو دُعاګانې کوي
"خدایا! لهٔ شر د آدم‌زاد، لوُر د حوا وساته"

چې د حضورٔ د میڼې شمع درنه تته نهٔ شي
"درده" لحد د یاره ځان سره رڼا وساته

ما د زخمونو ستورې بل کړل او تا خال ایښې دے
ما د ښایست تفسیر دُنیا ته تا اجمال ایښې دے

سترګې ، باڼهٔ ، شونډې ، رخسار ، زنه او تورې زلفې
ستا په څېره کښې الله څومره لوئ جمال ایښې دے

ما وې کهٔ پړق وهلې سپوږمه لهٔ بام را بره شوله
دا څو جوړ ته ئې چې خپل سر دې په دېوال ایښې دے

زهٔ هم دې خاورې تر اسمانه رسولے یمه
ما کهٔ په داؤ ورته خپل سر ایښې دے، مال ایښې دے

دا څوک نادان دے چې دوزخ کښې ځان ته کور جوړوي
دا څوک کم بخت دے چې په لار کښې ئې دېوال ایښې دے

لا څو د ژوند په هر سنګر کښې مورچه زن یم "درده"
لا مې نهٔ ټوره تبکه کړې ده ، نهٔ ډال ایښې دے

د رڼې سحر غوندې تبیس به د دې شپې راوزي
زما یقین دے چې سپین لمر به له تیارې راوزي

ماوې چې دغه دې لاسونه ئې چاپېر کړل ځانه
ماوې چې دغه دے تصویر دے له شیشې راوزي

زړهٔ د شیشې لرو، بدن موکهٔ د کاڼو دے جوړ
له تورو کاڼو همېشه سپینې چینې راوزي

زلموټي ضد کوي چې اووَمه دروازه لرې کړي
ګورو چې څوک ځانته له بندې دروازې راوزي

پهٔ دې بازار کښې وارهٔ مال د ولایت خرڅېږي
خو زهٔ چې څومره اشیٔ ګورم پردې راوزي

د غزل ډېر اړخونه اوس هم نابشکاره پراتهٔ دي
"درد" به چې کله ستا دځ له قصیدې راوني

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

لارې کوڅې دي کۀ کودر، ټوټې دے
هر څۀ نه تاؤ لکه څادر ټوټې دے

زړګي مو هغسې ساړۀ پراتۀ دي
زموږ لۀ کوره مرور ټوټې دے

د خلکو ساه پکښې تربته شوله
لارو کوڅو کښې يې سفر ټوټې دے

اُخر زما تر کور راورسېدو
زۀ مطمئن ووم چې بهر ټوټې دے

دلته زما لۀ زړۀ لمبه پورته شوه
هلته د حُسن بام و در ټوټې دے

کابل، کشمير کۀ فلسطين دے "درده"
نن د مشرق هر يو منظر ټوټې دے

هغه به نور وي چې سپېلي ورله ګلونه راوړل
موږ خو له ډک باغ نه خالي لاسونه راوړل

ما خو دُعا د بارانه غوښتې وه، خو خبر وم
باران د ځان سره لمن کښې تندرونه راوړل

اخترہ! ستا هم به خوارانو خوښي نه کوربه
اخترہ! تا هم مايُوسي راوړه، فکرونه راوړل

ځان دې ناره کړو زمانې ته، زه دې هم آزار کړم
نوم د سوغات ورکوې خوان کښې دې سرونه راوړل

سپېليه نه دې خوشبوئي د هغې زلفو راوړه
نه دې له هغې پسته شونډو سلامونه راوړل

ته خو جانان وې ګل وې، تا خو به خندا وېشله
ته خو درد نه وې ښکليه! تا ولې دردونه راوړل

ما له دربار نه د زخمونو قبا راوړه "درده"
خوشامدګرو خطابونه، خلعتونه راوړل

# قطعات

راتلې زما په لورې خو چې زه دې ولیدم
پښېمان شوې په خپل زړه کښې په راتلو ودرېدې
بې وسه اسوېلې مې یو لږ خوځې نه او وکتې
د اوښکو دوه قطرې مې په ښو ودرېدې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زه به اوده اوده جذبات را ویښ کړم
او ته د مینې محه ناب راوړه
د ځوانئ تېر عمر به بېرته راشي
زه غزل وایم ته رباب راوړه

وائې "د سپوږمۍ تشبیه چې رانه کړې
زه د سوالي حُسن بدل نه یمه"
ما چې ورته "ګُل" اووې نو وې خندل
زه لا بند غوټۍ یمه ګُل نه یمه

# رباعیات

تۀ څۀ به اوښکې لۀ سترګو نیسم
د خپته ورو څوراک چې وینم
ولې به برخه ځان ته نۀ غواړم
زۀ ماں څو نۀ یم چې خاورې پېسم

---

دا المیه هم څۀ عجیبه ده
چې مزدورکه ته یې اسره ده
ورځ د اختر ده کاروبار بند دے
د مزدورانو نن هم روژه ده

## بیت

هر غزل مې منتخب دے لیکن "درده"
د تخلیق لۀ کربه هره ورځ تیرېږم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# ساند ه

چا وې چې "احسان" پسې غمژن دے "درد"
هغه دے ژوندے دے دروغژن دے "درد"

ما به چې په زړهٔ پورې نيولے وُ
خاورو کښې نن پروت هغه بدن دے درد
هر خواته د "ګل" د ياد اوروَنه دي
کور دے کهٔ پارک دے کهٔ دلن دے درد
اوس خو د دردونو لهٔ حد اووَتو
اوس ورپسې ولې زړبخښن دے درد
څهٔ رنګه تازه وُ چې "ګل" دلته وُ
څهٔ رنګه ويجاړ زما چمن دے درد
ذکر د "احسان" ورسره مهٔ چېړئ
بيا به په ژړا شي لوغړن دے درد

چا وې چې "احسان" لهٔ مانه لرې لاړ
منځ کښې مو پرده بس يو کفن دے درد

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

# پښتونه

چا دا مصرعه راته لیکلې ده د کور په دېوال!!
"چا در ته وې چې ځان ته "درد" وایه اوس تم شه ورته"

چې د "درد" غونډې سړے درنه باغي شو
اے پښتونه زمانې قصور د چا دے؟

هر سړي ته به انسان نه وايې "درنه"
ما لیدلي ځنې سترګې پښتنيا دي

دا څوک پاګل دے چې په لار کښې دېوالونه وهي
دا کوم بدبخت دے چې دوزخ کښې ځانته کور جوړوي

# پښتونه

ساه يې خوب کښې څکه لنډه لنډه کېږي
په سينه باندې يې پروت دے بار د زلفو

"درد" د رته ټوټے شو که ټوټے نۀ شو
اوس وايه دُنيا کښې وفا شته که نه؟

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا راته ښکاره شوه پس د ډېرې تجربې نه
هجر نۀ دے وصل د دوه زړونو امتحان دے

کاش که تا هم داسې وېلے شوے ناصحه
"ما هم کړے يو ناکامه محبت دے"

چې تکميل د کائنات کوي ښائست دے
چې تکميل کوي د حُسن، محبت دے

wajahat Ali ( v .J)

If any two were one, then surly we,
If any one was loved by me, the thee
I Prize thy love more, than mines of gold,s
And all the riches that the world holds
My love is such that ocean cannot quench
Nor anght, but from thee give recompance
thy love is such that i cannot repy
the heavans reward thee mani fald, i pray
Then while we live love, let,s so preserve,
than we live no more, we may live ever.

# د خپرندوی خبرې

بیناغلي اباسین یوسفزي په خپل کتاب "غور ځنګونه" کښې دا خبره ډېره په خلاص مټ سره کړې ده. د اباسین دغه نیک تقریباً یو کال مخکښې زما تر نظر تېر شوے دے. بیناغلي وئیلي دي چې دا خبره تر ډېر حد حقیقت نه شي کېدے چې د پښتو کتاب اخیستونکي نهٔشته یا ئې لوستونکي نهٔشته او یا ئې په قیمت خوګ نهٔ اخلي. که دا خبره حقیقت وي نو زما د غور ځنګونو کتاب به په یو دوه کالو کښې دوه درې ایډیشنان نهٔ کېدل. بیناغلي دغه خبره چې تر ډېرې مودې پورې په سوچونو کښې ګرځېده. هرکله چې د بیناغلي رحمت الله درد شعري مجموعه د "غزل" په نوم په مارچ دوه زره یو کښې چاپ شوه. نو هغه د غزل نومې کتاب څلورو پنځو میاشتو نه پس نهٔ د رحمت الله درد سره ملاؤ کېده او نهٔ په مارکیټ کښې. په دې مینځ کښې ماته بیا د اباسین یوسفزي هغه خبره رایاده شوه. اباسین یوسفزي چې څهٔ وئیلي وو هغه بالکل حقیقت وو. اباسین یوسفزے یو سپین زړے سپېځلے پښتون دے. یو طرف که دهٔ پاره دا خبره دکولو نهٔ وه نو بل طرف ئې په حقیقت سترګې پټې کړې نهٔ

دي ـ دلته د اباسين يوسفزيي خبرې نه يو بل انجام راوزي چې
هغهٔ بناغلي معيار طرف ته اشاره کړې ده ـ معيار کهٔ ترخهٔ حد ده
ګران دے نو ترخهٔ حد ده اسان دے خو معيار ځان ته مونږ
په خپله ګران کړے دے ـ ولې چې مونږ همېشه د خپلو مشرانو
نقادانو او پوهانو سره اختلاف لرو ـ که خبره د اسانتيا وي نو
معيار به مونږ کښې هله راځي چې د خپلو مشرانو نقادانو سره
ناسته پاسته شروع کړو او د هغهٔ سيورې لاندې باقاعده
سره خپل ژوندون وساتو .
اوس که خبره د معيار نهٔ وي نو د چاکتاب هغه کهٔ د نثر وي
او کهٔ د نظم وي په يو دوه کالو کښې دوه درې ايډيشنونه کيږي
او بيا هم په مارکيټ کښې نهٔ موندې شي ـ او د چا کتاب سن نه
تقريباً دېرش کاله مخکښې يو ايډيشن شوے وي هغه د کتاب
مؤلف سره په بوره بوره پراته وي ـ نو ما خهٔ موده راسې
دا خبره په زړهٔ کښې وه چې يوه ورځ د رحمت الله درد صاحب
سره په دې باره کښې صلاح مشوره وکړم چې ياخو تهٔ د خپل
کتاب دويم ايډيشن په خپله چاپ کړه او يا ماته د چاپ کېدو
اجازت وکړه ـ په دې باره کښې زهٔ يوه ورځ لکي مروت ته لاړم او
هلته مې خپل ګران ملګري نادرخان عليل صاحب سره په دفتر
کښې خبره وکړه چې په دې مېنځ کښې مشر رحمت الله درد هم
تشريف راوړو ـ نو هغه د سلام نه پس نادرخان عليل بناغلي
رحمت الله درد ته اووې چې درد صاحب! تاسو به د عمر دراز د

## عمردراز مروت
# چاپ کړي کتابونه

| | |
|---|---|
| ۱: تنګيالي پښتانه | (تذکره) |
| ۲: غم او زغم | (د مسرور شاعري) |
| ۳: نيمګړي حسرتونه | (د شېرغلام شاعري) |
| ۴: خبرې په قلم | (اول ټوک) (تذکره) |
| ۵: خبرې په قلم | (دويم ټوک) (تذکره) |
| ٦: تصوير د ماشومونو | (د سليم قرار شاعري) |
| ۷: ګل بې خاره نه وي | (د عمردراز مروت شاعري) |
| ۸: مسکا په شونډو د غزل | (شعري غورچاڼ) |
| ۹: تنکۍ پاڼې | (دويم ايډيشن) (تذکره) |
| ۱۰: پېنګه | (دويم ايډيشن) (د ساغر ګنډه پوره شاعري) |
| ۱۱: د سترګو ازغي | (د ساغر ګنډه پور شاعري) |
| ۱۲: غزل | (دويم ايډيشن) (د پروفېسر درد شاعري) |
| ۱۳: د کاڼي کرښه | (د عمر دراز مروت شاعري) |
| ۱۴: خواره واره لعلونه | (تذکره) |
| ۱۵: د غاټولو کرونده | (تذکره) |
| ۱٦: غزل | (درېيم ايډيشن) د پروفېسر درد شاعري |
| ۱۷: ليدلي کتلي | (د نياز لوانې نثرت ټولګه) |
| ۱۸: مرګه ډېر ډېر ارمانونه.... | د دمساز مرحوم په ياد کې (شاعري) |
| ۱۹: درد | (د پروفېسر درد شاعري) |



پروفیسر رحمت اللہ درد